وزارت اقتصاد
MINISTRY OF ECONOMY

# دافغانستان اسلامی جمهوریت
# د اقتصاد وزارت
## دزابل ولایت د اقتصادی او تولنیزی پراختیا لیدلوری سند



Ketabton.com

زابل ولايت اقتصادي او ټولنيزې پراختيا ته يوه کتنه

کال: ۱۳۹۹ (۲۰۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

محتويات او فهرست

## د مطالبو نوملړ


لنډ مخففات ........................................ و

مقدمه: ........................................ Error! Bookmark not defined.

د ولایت مقام پیغام: ........................................ Error! Bookmark not defined.

د دې سند پیژندنه ........................................ 2

دولایتي پروفایل په تړاو لنډ معلومات ........................................ 2

په ولایتي پروفایل کې د معلوماتو راغونډولو میتود ........................................ 2

رهبري او تخنیکي همکاري ........................................ 3

لومړی څپرکی ........................................ 4

۱/۱زابل ولایت د تاریخ په هنداره کې ........................................ 4

۲/۱د ولایت نوم او د نوم په اړه لنډ مالومات ........................................ 4

۳/۱ تاریخي ځایونه او آ ثار ........................................ 4

۵/۱ جغرافیایي موقعیت او موسم(د ولسوالیو نومونه او د پولو په اړه مالومات ........................................ 5

۷/۱ عمومي نفوس/وګړي ........................................ 8

دویم څپرکی ........................................ 12

د کرهنې سکتور ........................................ 12

۳/۲ زراعتی ځمکه د ولسوالیو په کچه ........................................ 13

۹ /۲ انکشافی بودجه عایدات او پانګونه: ........................................ 21

د زراعت او انکشاف دهات سکتور د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا د موجوده او ........................................ 21

بالقو سرچینو او پوتانشیل تحلیل: ........................................ 21

د کرهنیزو محصولاتو په برخه کې سرمایه ګذاری: ........................................ 22

د وچې میوی د پروسس او بسته بندی د مرکز جوړول: ........................................ 25

د پوهنې سکتور ........................................ 26

د سکتور په هکله لنډ معلومات: ........................................ 26

دولتي او خصوصي ښوونځی: ........................................ 28

د رسنیو فعالیتونه: ........................................ 30

سپورټ او بدنی روزنه ........................................ 30

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوهني سکتور انکشافی بودجه، عواید او پانګونی د فرصتونو تحلیل:** ........ 31
**دعامې روغتیا سکتور** ........ 34
**د سکټور په هکله لنډ مالومات** ........ 34
**روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی** ........ 34
**۲- د روغتیایی استیاوو لنډیز:** ........ 37
**3-د روغتیا د سکتور په برخه خصوصی پانګونه:** ........ 38
**د عامې روغتیا سکتور د تیرو کلونو عواید ، انکشافې بودجه او د پانګونی د فرصتونو تحلیل:** ........ 38
**د زیربنا او طبعی سرچینو سکتور:** ........ 40
د سکتور په اړه لنډ معلومات ........ 40
سړکونه / لارې: ........ 40
هوایی ډګرونه : ........ 41
**ترانسپورت:** ........ 42
دزابل په ولایت کې موجوده دمسافربری او باربری اتحادیی په لاندې ډول دي: ........ 42
**د ولایت برېښنا:** ........ 42
**مخابرات او معلوماتی تکنالوژی:** ........ 43
**صنعتي فابریکې :** ........ 44
**کانونه / زیرمې** ........ 44
د اوبو دتنظیم: ........ 46
**د اقتصاد او خصوصي سکټور انکشاف سکتور** ........ 50
**د اقتصادي او خصوصي سکټور په وده کې د خصوصي سکټور د پانګونې کچه** ........ 51
دتولیدي فابریکو ستونزی: ........ 52
**دیبوزلی وضیعت او دکاری ځواک سلنه:** ........ 54
**د اقتصادی ودی د سکتور بودجه، راټول شوی عواید او په دغه سکتور کې دپانګې اچونی د فرصتونو تحلیل:** ........ 54
دښځینه لاسی صنایعو ارزښت په لاندی ډول ده ........ 56
**حکومت والی سکتور** ........ 58
دحقوقو آمریت لاسته راوړنی ........ 58
دقضا یای دولت آمریت لاسته راوړنی: ........ 58
دحوقوقی مرستو آمر یت لاسته راوړنی: ........ 58

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکوچنیانو داصلاح او روزنی آمریت لاسته راوړنی: ........ 58
**ښه حکومتوالی:** ........ 58
سیاسي گوندونه ........ 60
قومی شوراگانی : ........ 61
**مذهبی او دیني چارې:** ........ 61
**د تولنیز خوندیتوب سکتور** ........ 64
**درېیم ځپرکي** ........ 73
**د پراختیایی بودجی د مصرف د اغیزمنتوب اقتصادی تحلیل:** ........ 73
**څلورم ځپرکي** ........ 1
**په زابل ولایت کې د غیر دولتي موسساتو د انکشافي فعالیتونو د موثریت اقتصادی تحلیل:** ........ 1
**پنځم ځپرکي** ........ 10
د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ او د ملي لومړیتوبونو پروگرامونه (ANPDF/ NPPs) ........ 10
۲. د ولسي ترون پروگرام ........ 11
۳. د اغیزمني حکومت والی پروگرام ........ 13
۴. د عدلي سکتور د رغولو پروگرام ........ 15
۵ . د کرهني د پراختیا هر اړخیز پروگرام ........ 16
۶. د اړیکو او زیربنا پروگرام ........ 18
۷. د ښاري پراختیا پروگرام ........ 19
د پورته موخو د ترلاسه کولو لپاره، افغانستان به دا تدابیر ونیسي ........ 20
۹. د کانونو او طبیعي سرچینو د پراختیا ملي پروگرام ........ 21
۱۰. د بشري سرچینو د پراختیا پروگرام ........ 22
دوهمه برخه ........ 24
د افغانستان د تلپاتی پرمختګ موخي ........ 24
**د افغانستان د تلپاتي پراختیایي موخو(A-SDGs) د مشرتابه او څا رنی جوړښت:** ........ 29
**اجرائیه کمیټه** ........ 29
**سرچینې او مأخذونه** ........ 33

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډ مخففات

| | |
|---|---|
| د اقتصاد وزارت | **MoEc** |
| د مدني ټولنې اداره | CSO |
| د ولسوالۍ پراختيايي شورا | DDA |
| د طرحې او توحيد عمومي رياست | DDC |
| د  ولسوالۍ مقام دفتر | DGO |
| د سيمه  ييزه ادارو د پياوړتيا نوښت | ISLA |
| د سيمه ييزه ارګانونو خپلواکه اداره | IDLG |
| نړيواله نادولتي موسسه | INGO |
| (سيمه ييزه حکومت والي )هغه پروژه چې د ملګرو ملت ونو د پرمختيايي پروګرام -UNDP له خوا پلې کيږي | LoGo |
| څا رنه او ارزونه | M&E |
| د ماليې وزارت | MoF |
| د ښځو چارو وزارت | MoWA |
| کلنی ولايتي پلان | PAP |
| د ولايتي بوديجې پاليسي | PBP |
| ولايتي شورا | PC |
| ولايتي پرمختيايي کميټه | PDC |
| د ولايتي شورا دفتر | PCO |
| د ولايتي پرمختيايي پلان جوړونې لارښود | PDPG |
| د ولايت مقام دفتر | PGO |
| ولايتي ستراتيژيک پلان | PSP |
| ولايت د اقتصاد رياست | DoEc |
| د ولايتي مالوماتو مديريت سيس ټم | PIMS |
| ولايتي تخنيکي کمېټه | PTC |
| د عامه مالي مديريت ولايتي کمېټه | PPFMC |
| د ولايتي سکټور تخنيکي کمېټه | PSTC |
| اړونده ولايتي رياست | PLMD |
| د متحده ايالتونو نړيواله پرمختيايي اداره | USAID |
| نړيوال بانک | WB |
| د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام | UNDP |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مقدمه:**

دغه سند چې تاسو یې لولی د زابل ولایت اقتصادي او ټولنیزې لیدلوری نومیږي چې د زابل ولایت اقتصاد ریاست لخوا د سکتوری ادارو (کرهنې او مالداری سکتور، پوهنی سکتور، د روغتیا او خوړو سکتور، د زیر بنا او طبعی سرچینو سکتور ، حکومت والی سکتور، ټولنیز خوندیتوب سکتور، او اقتصادي ودې او خصوصی سکتور پرمختیا سکتور) او په هر سکتور کی دشاملو ادارو څخه دراټولو شویو معلوماتو تحلیل او څیړنه وړاندي کوي او مونږ ته د زابل ولایت د اوسنی وضعیت په اړه هر اړخیزه معلومات راکوی، چې پنځه (۵) فصله لری په لمړی فصل کې د ولایت په اړه عمومې معلومات ذکر شوی ، په دوهم فصل کې د سکتورونو په تفکیک د انکشافې وضیعت تحلیل ، په دریم فصل کې د انکشافی بودجې د اقتصادی موثریت تحلیل، په څلورم فصل کې د غیردولتی موسساتو دانکشافی فعالیتونو د اقتصادی موثریت تحلیل او په پنځم فصل کې د ولایت د اقتصادي او اجتماعی انکشاف، استراتیژیک لید لوری ذکر شوی دی

د ولایت د اقتصادی او ټولنیزې پراختیا لیدلوری( ولایتي پروفایل) په حقیقت کې د ولایت انځور پانه ده چې د ولایت د اوسنی حالت ، موجوده پوتانشیل او پرمختګ لپاره موجوده پوتانشیلونه او سرچینو په اړه هر اړخیز معلومات پکې شامل دی د مرکزی ادارو سره د ولایت د حقیقی انځور په شریکولو کې مهم رول لری. دا سند به له مرکزی ادارو، دونرانو او همدارنګه غیر دولتی موسساتو، دولتی ادارو سره دخپلو پروژو دتطبیق او د ولایت د لومړیتوبونو په پیژندلو کې مرسته وکړی چې د خپلو پروژو، برنامو او طرحو په پلی کولو کې د موجوده ارقامو نه استفاده وکړي.

مرکزی ادارو ته به د زابل د موجوده حالت یو حقیقی انځور برابرشی او دزابل د موجوده ستونزو، ننګوونو او په زابل کې د اقتصادی او ټولنیزی پراختیا لپاره د سکتورونو په تفکیک د موجوده پوتنشیلونو، سرچینو او په هر سکتور کې د پانګونې لپاره به د مرکزی ادارو او خصوصي سکتور پاملرنه را جذب کړی.

دا سند به خصوصی سکتور ته د خصوصی پانګونې لپاره لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله موجوده فرصتونه او په دې برخه کې د پانګونې اوسنی حالت معلوم کړی او په مختلفو برخو کې د پانګونې لپاره به دخصوصی سکتور د توجه په را جذبولو سره به خلکو ته کاری فرصتونه برابر شی، د بېوزلی د کچې په کموالی کې به مرسته وکړي او دولایت د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا سبب به وګرځي.

**په درنښت**

**سیف الله صمیم**

**د زابل ولایت اقتصاد رئیس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ولایت مقام پیغام:

دزابل ولایت غزتمندو اوسیدونکو !

په سر کی غواړم د ټولو ملکی او نظامی مسولینو نه د زابل ولایت د خلکو په استازیتوب مننه وکړم او دا ویاړ او عزت چی اوس په نسبی امنیت که ژوند کوو د هغو سرتیرو د قربانی او فداکاری پایلی وبولم چی په لمړی خط کی د خپل ولس وطن او خاوری څخه ساتنه کوی.

هیڅ پرمختک او هوسا ژوند بی له امنیت څخه ممکن ندی خو د خوښۍ ځای دی چې زموږ د ګران هیواد افغانستان په ټولو برخو کې ځانګړي پرمختګونه تر سترګو کیږي، په داسې حال کې چې هیواد مو د څو لسیزو جنګونو، داخلي کړاونوو او بدبختیو څخه راوتلی دی.

زابل چی د کلنو را هیسی د پرمختک او د بنسټیز کارونو شاهد نه و خو بیا هم د نورو ولایتونو په څیر د یو شمیر بدلونونو شاهد و، خو یاد پرمختګونه بسنه نه کوي او لا هم ډیر څه باید تر سره شي تر څو دی خوار او بی وزله ولس ته یو څه هوسا او آرامه ژوند برابر شی چی د اقتصادي ودې او سرانه عاید د لوړونې لامل شي او تر څنګ یې د بیکاری، لوږې اوبیوزلۍ ټغر ټول شیلکه څرنګه چی ښکاره ده زابل ولایت ته نه د مرکزی حکومت له لوری او نه د ملګرو ملتونو او مرستندوی هیوادونو لخوا کومه ځانګړی توجه شوی چی د نورو ولاییتونو په نسبت په کمه اندازه پراختیایی پروژی په زابل ولایت کې پلې شوې، خصوصي سکتور چې د هیواد داقتصادي ودې او د دندو په رامنځته کولو کې خورا مهم دی د برښنا او صنعتی پارک د نشتون له امله په زابل ولایت کې په نشت حساب دی

په متوازنه پراختیا تاکید او وروسته پاتې ولسوالیو ته ځانګړې پاملرنه، دچوپړتیاوو او خدماتو غځول، زابل ته د مهمو زیربنایی پروژو لکه اداري کمپلکس، هوایی میدان، صنعتی پارک او د شملزایی ګمرک تاسیسات جوړول او همدارنګه د جاری پروژو په کیفیت تمرکز به به زمونږ له کاری اولیتونو څخه وي.

د زابل د ۱۳۹۹ لمریز کال د ولایت د اقتصادي او ټولنیزې پراختای لیدلوری سند د ولایتي اداري د لاسته راوړنو یو ښه بیلګه ده دغه د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا لیدلوری سند چې د تیرو کلونو په توپیر د ولایت په اړه دعمومی معلوماتو ترڅنګ د سکتورونو تحلیل، په تیرو کلونو کې د دولتی ادارو او غیر دولتی موسساتو له لارې د ترسره شویو پراختیایی فعالیتونو د اقتصادي اغیزمنتوب تحلیل د زابل ولایت اقتصاد ریاست په زحمت او د USAID ISLA ولایتی دفتر په تخنیکی ملاتړ ترتیب او چمتو کړل شوی ډاډمن یم چې د ولایتي ادارو، مرسته کوونکو او غیردولتي موسسو په مالي مټ به د اقتصادي او اجتماعي کړنو په ترسره کولو ، متوازن پرمختګ ته لاره هواره او د زابل شریف او متدین ولس به پرته د کوم توپیري چلند څخه دهر ډول اړینو چوپړتیاوو څخه برخمن شی.

په پای کې په ځانګړې توګه د زابل ولایت اقتصاد سرپرست رئیس او همکارانو له هڅو څخه یی قدرداني کوم چې دزابل ولایت د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا لید لوری سند یی ترتیب کړی.

دپیاوړی او پرمخ تللی زابل په هیله

**الحاج تورن جنرال محمد نبی احمدزی**

**دزابل ولایت والی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دي سند پيژندنه:

### دولايتی پروفايل په تړاو لنډ معلومات

دغه سند چي تاسي يي لولي د زابل ولايت د اقتصادی او ټولنيز پراختيا ليدلوری سند نوميږي،چي د افغانستان لپاره د دوامداره پرمختيايي موخو (SDGs ) او د افغانستان دملي پرمختيايي ستراتيژي (ANDS) او د ملي لومړيتوب لرونکو پرو ګرامونو په چوکاټ کي د ولايت په کچه د دولتي او نادولتي ادارو (کرهڼې او مالداری سکتور، پوهنی سکتور، عامی روغتيا سکتور، د بنسټونو سکتور، ټولنيز خونديتوب سکتور او اقتصاد خصوصي سکتور او په هرسکتورکی دفرعی ادارو يعنی رياستونو) څخه د راټولو شويو معلوماتو ( Data ) تحليل او څيړنه وړاندي کوي او مونږ ته د زابل ولايت د اوسني وضعيت په اړه هراړخيز معلومات را کوی.

## ددي سند جوړښت

دغه سند په پنځو عمده برخو ويشل شويدي :

| لومړی | د ولايت پيژندنه |
|---|---|
| دوهم | د ولايت د عمومي حالت تحليل (اقتصادی او ټولنيز ) |
| دريم | د پراختيايی بودجی د مصرف د اغيزمنتوب اقتصادی تحليل |
| څلورم | د غير دولتی موسساتو د انکشافی فعاليتونو د اقتصادی اغيزمنتوب تحيليل |
| پنځم | د افغانستان د (ANPDF/NPPs) پرواګرامونه او د (A-SDGs) موخي او ټارګيټونه |

### په ولايتي پروفايل کې د معلوماتو راغونډولو ميتود

- دترتيب شوو پوښتنليکونو مطابق د معلوماتو راټولول
- دمخامخ مرکو ترسره کول
- د سکتوری ادارو لخوا د مکتوب او هم دايمل له لاری دمعلوماتو راټولول
- دمرکزی احصايی اداری دمستندو اسنادو څخه معلومات اخيستل
- دولايت په سطحه دنړيوالو ادارو لخوا دسروی شوی مستندو پايلو څخه معلومات ترلاسه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د موادو تحلیل

| | |
|---|---|
| **لومړي مرحله** | پوښتن لیکونه ټولو سکتوري او فرعی ادارو او ریاستونو ته په مکتوبي او د ایمل له لاری واستول شول او په ځواب کی دا اړونده ادارو څخه بیا ځلی ترلاسه شول |
| **دوهمه مرحله** | د معلوماتو دتحلیل ، کتنی او توحیدولو په لړ کي د نیمگړتیاو دشتون په صورت کی د اړونده مرجع سره اړیکه ونیول شوي او ورسره مرکي تر سره شوي . |
| **د ریمه مرحله** | دکره کتنی څخه وروس ټول راټول شوی معلومات په یو ځانګړی ټاکل شوی فارمټ کی توحیدکړل شول . |

## رهبري او تخنیکي همکاري

ددغه ټول بهیر رهبري د اقتصاد وزارت /اقتصاد ریاست لخوا کیدله خو مسلکي او تخنیکي همکاری یي د اقتصاد ریاست دانکشافی کړنو دتنظیم امریت آمر او کارمندانو لخوا ترسره کیدله.

## د موادو راټولولو تیم

د اقتصاد ریاست دانکشافی کړنو دتنظیم امریت کارمندان او اړوند ریاستونو په همکاری د ولایتی پروفایل معلومات راټول او پدی سند کی ځای پر ځای شول.

## دولایتی انځورپاڼي یا پروفایل اهمیت:

دغه سند دزابل د ولایت اوسني وضعیت د افغانستان د سولې او پرمختیا ملی چوکاټ، او د ملي لومړیتوب پر بنست پروګرامونه (ANPPS)او (ANPDF) د افغانستان د سولې او پرمختیا ملی چوکاټ او د افغانستان د پایداره پراختیایی موخو (A-SDGs) په بنسټ په ډاګه کوی او دغه سند دزابل ولایت هراړخیز اقتصادی او اجتماعی انځور په توګه څرګندونه کوی، دولایتی پروفایل اساسی موخه دولایتی سکتورونو او ریاستونو اوسنی وضیعت روښانه کوی او په ضمن کی مرکزی حکومت دی ته متوجه کوی ترڅو داړونده ولایت د پرمختګ لپاره هراړخیز متوازن پرمختګ ته توجه وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ څپرکی

## د ولایت په اړه عمومی معلومات

### د زابل ولایت پیژندنه،جغرافیایی موقعیت او اداري واحدونه:

#### ۱/۱زابل ولایت د تاریخ په هنداره کې

زابل د شمالی عرض البلد په ٦٦ درجو او ۵۴ دقیقو او ختیځ طول البلد د ۳۲ درجو او ۷ دقیقو ترمنځ د هیواد په سهیل لویدیځ کی پروت دی، زابل د پښتنو د لرغونو قبیلو زاولیانو ټاټوبی دي چی ویل کیږی دغه قبیلی د یفتلی قوم مهمه پنبه یا ریښه بلل کیده هغه پاچاهان چی د اخنشنور له مرگه ورسته د هندوکش په جنوبی څنډو او پراخو ډاگونو کی چی د زابلستان په قلمرو کی راځی په بیلا بیلو پړاونو کی پاچاهی ته رسیدلی لکه تورمانا مهراکولا او داسی نور.

د کابل کندهار په لاره پروت زابل طبعی ښکلا او تاریخی سیمو په درلودلو سره د افغانستان له تاریخی او کلتوری ولایتونو څخه گڼل کیږی

او همدا رنگه د دې ولایت اکثریت خلک پښتانه دي چې مهم ټبرونه یی توخي، هوتک، وردگ، سلمانخیل، خروټي،ناصر،پوپلزي ،الکوزي، کاکړ، تره کي ، لودېن ،سلیمانخیل ،اندړ او نیازي قومونه دي چې په مرکز کلات کې ۳٪ سلنه تاجک وروڼه هم میشت دي .

#### ۲/۱د ولایت نوم او د نوم په اړه لنډ مالومات

زابل له قدیمه څخه زاول وو د وخت په تیریدو سره زابلستان شو همدارنگه په ۱۳۵۳ د ظاهرشاه د سلطنت په دوره کی چی کله ولایت شو په رسمې مکاتبو کی د زابل په نوم ونومول شو.

#### ۳/۱ تاریخي ځایونه او آ ثار

قلات بالاحصار، غشی منار، میرویس نیکه کلا، صاحب خان غونډۍ، سنگرجمال خیل ، بولان سمڅه ، لوړگی تپه، میزانی تپه ، شهر صفا مثنوی غونډۍ ، شاه عالم خان کلا، سرکاری کلا او سورتاک دزابل ولایت د مهمو او کلتوری تاریخي ځایونو اوآثارو څخه شمیرل کیږي.

#### ۴/۱ د زابلیانو دودونه او رواجونه:

اختریزی میلی ، ډولونه ، سانگی یا نیزه بازی ، غیږی ، اتڼونه ، هگی جنگی ، محلی موسیقی ،د اختر د ورځی لومړنی سهار په مسجدو کې د چاي( شیدو) تازه میوه او ډوډی په خوړولو او د مشرانو او کشرانو لخوا یو بل ته د اختر په مبارکی ورکولو سره پیل کیږی همدارنگه کوچنیان اختریزی میوی عیدی( اختری) ټولوی او خلگ د خپلو خپلوانو کورونو ته د مبارکی لپاره لپاره ځي او چې ورسره د اختر ورځي په همدې ډول سره پای ته رسیږی او ځینی خلک د نوروز په ورځو کی د تفریح او رخصتی لپاره وځی او پسرلني مشاعری هم پکی جوړیږی او د خوشحالی او غم په ورځو کې د یو بل کورونو ته ورځی او په دواړو حالتونو کې (خوشحالیو او غم ) کې ځان ورسره شریکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵/۱ جغرافیایي موقعیت او موسم(د ولسوالیو نومونه او د پولو په اړه مالومات)

زابل ولایت دګران هیواد افغانستان د۳۴ ولایتونو څخه دهیواد په سهیل لوېدیځ کې پروت ولایت دی، شمال طرف ته له غزني او اروزګان ،غرب طرف ته له کندهار او اروزګان ،جنوب طرف ته له کندهار اوپکتیکا سره اوشرق طرف ته له پکتیکا او پاکستان سره د٦۳ کېلومتره په اوږدوالی ګډه پوله لري او ټول مساحت یې 17471.8 $km^2$ ده. زابل ولایت یا پخوانی زابلستان د پښتنو د لرغونو قبیلو ټاټوبی، د کابل ـ کندهار پر لویه لار پروت دی او دکابل هرات لویه لاره د(۱۷۸)کېلو مـــــــتره په اوږدوالـــــي دنوموړي ولایت شاه جوی ولسوالي، مرکز قلات ښار ، ترنک اوجــــلدک ولسوالیو څخه تیرېږي یاد ولایت ۴۵ کاله وړاندي په رسمي ډول د خپلواک ولایت په توګه ونومول شو د یاد ولایت دوګړو شمېر داحصایې له مخې (377648) تنه ښودل شوی دي چې ترسره شوي سروې د دې ولایت د خلکو د تایید وړ نده او سربیره پردې په نوموړي ولایت کې تخمیناً (800000) وګړي په ۱۰ ولسوالیو او مرکز قلات کې ژوند کوي چې دغه شمېره د عامې روغتیا ریاست سره ثبت او راجستر ده د زابل ولایت مرکز د قلات ښار دی، یاد ولایت د۱۵۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ پوری کوچنی او غټ کلی لری او دولایتي پلازمینې په توګه د دی ځای څخه ټول ولایت او ولسوالیګاني اداره کېږي اکثریت نفوس یی د کندهار او کابل په لویه لار او په هغو ولسوالیو کې میشت دي چې دهمدې لویې لارې په اوږدوکې پرتې دي. د ډیری مرکزي ادارو (وزارتونو او خپلواکو ادارو) دویم اداری واحدونه په قلات ښار کې شتون لری مګر په ځینوولسوالیګانو کې د ځینو اداري واحدونو ځانګي شتون نه لري اوپه ځینونوروکې بیا دبشری سرچېنو دکمښت اوځینو نوروتخنیکي ستونزوله کبله تردې مهاله ندی فعال شوي چې پدی برخه کې د ښوونې او روزنې، کرهڼې او مالداری اوعامې روغتیا وزارتونو استازیتوب مخکې او استثنا شمیرل کېږي. په رسمي ډول د قانون حاکمیت اوس مهال د ولایت په کچه څه نا څه د پراختیا په حال کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

### ٦/١ دزابل ولایت دولسوالیو په اړه معلومات :

| شمیره | ولسوالي | معلومات | نفوس | دکلیو تعداد |
|---|---|---|---|---|
| 1 | مرکز قلات | قلات دزابل ولایت مرکز دی چي مساحت یې ١٦٦٩ کېلومتره مربع دي اوڅلور ناحیې لري، رهایشي ساحه یې پنځه کیلو متره مربع ده،تجارتي ساحه یې یواعشاریه دوه کیلومتره مربع ده، دولتي ساحه یې پنځه کیلومتره مربع ده او شنه ساحه یې یو کیلو متره مربع ده. | 44072 | 158 |
| ٢ | شینکی | شینکی ولسوالي د مرکز کلات جنوب طرف ته په (٨٠) کېلومتري کې واقع ده چي مساحت یې 2245 کېلومتره مربع دی. | 31363 | 164 |
| ٣ | شملزایي | د شملزایی ولسوالي د مرکز کلات جنوب شرق طرف ته په (١٠۴) کېلومتری کې واقع ده چي مساحت یې 2819کېلومتره مربع دي. | 35886 | 263 |
| ۴ | نوبهار | نوبهار ولسوالي د مرکز کلات ختیځ لور ته په (٩۵) کېلومتری کې واقع ده چي مساحت یې 1354 کېلومتره مربع دی. | 24111 | 122 |
| ۵ | ترنک جلدک | د ترنک او جلدک یا شهرصفا ولسوالي د مرکز کلات جنوب طرف ته په (٦٢) کېلومتری کې واقع ده چي مساحت یې 1553 کېلومتره مربع دی. | 21831 | 187 |
| ۶ | اټغر | د اټغر ولسوالي د مرکز کلات جنوب شرق طرف ته په (١٣۵) کېلومتری کې واقع ده چي مساحت یې 527کېلومتره مربع دی. | 13816 | 83 |
| ٧ | ارغنداب | د ارغنداب ولسوالي د مرکز کلات شمال غرب لور ته په (١٢۵) کېلومتری کې واقع ده چي مساحت یې 1190کېلومتره مربع دی. | 36298 | 144 |
| ٨ | میزاني | د میزاني ولسوالي د مرکز کلات غرب طرف ته په (٥٦) کېلومتری کې واقع ده چي مساحت یې 1040 کېلومتره مربع دی. | 21250 | 112 |
| ٩ | دایچوپان | د دایچوپان ولسوالي د مرکز کلات شمال غرب طرف ته په (٢٠۵) کېلومتری کې واقع ده چي مساحت یې 1923 کېلومتره مربع دي. | 43742 | 134 |
| ١٠ | شاه جوی | د شاه جوی ولسوالي د مرکز کلات شمال او شمال شرق طرف ته په (٦٦)کېلومتری کې واقع ده چي مساحت یې 1719کېلومتره مربع دی. | 78512 | 231 |
| ١١ | کاکړ | کاکړ(خاک افغان) ولسوالي د مرکز کلات شمال طرف ته په (١۴٠) کېلومتری کې واقع ده چي مساحت یې 1105 کېلومتره مربع دی. | 26766 | 117 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷/۱ عمومي نفوس/وګړي:

### د نفوس په هکله معلومات

د ښاري، کليوالي اوسيدونکو  او کوچيانو شمېر

زابل ولایت د هیواد یو د هغه ولایتونو د جملی څخه شمیرل کیږی چی کم نفوس لری چې د ۱۳۹۸ کال داحصایی په اساس یی نفوس (377648) تنه ښودل شوي دی  چې ترسره شوي سروې د دې ولایت د خلکو لپاره د منلو وړ نده، په تخمینی ډول دزابل ولایت نفوس شاوخوا (800000) اته سوه زره وګړو ته رسیږي چې په ۱۰ ولسوالیو او مرکز قلات کې ژوند کوي چې دغه شمېره د عامې روغتیا ریاست سره ثبت او راجستر ده، همدارنګه دزابل ولایت په مربوطاتو کی  دکوچیانو (۳۲۰۰۰) کورنی ژوند کوی چی نفوس یی ( ۱۹۲۰۰۰) ښودل شوی، یاد کوچیان دموسم په ګرمیدو سره سړو سیمو ته خپلی کورنی په موقت ډول انتقالوی.

| شمېره | د اداري واحد نوم | د کليو اوښاري اوسيدونکو شمير | | | د ښاری اوسیدونکو شمیر | | | د کليو د اوسيدونکو شمير | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | دواړه جنسونه | نارينه | ښځينه | دواړه جنسونه | نارينه | ښځينه | دواړه جنسونه | نارينه | ښځينه |
| ۱ | مرکز | 44072 | 22363 | 18403 | 12703 | 6392 | 6311 | 31369 | 15971 | 15398 |
| ۲ | شاه جوی | 78512 | 39948 | 21703 | | | | 78512 | 39948 | 38565 |
| ۳ | ترنک و جلدک | 21831 | 11057 | 10774 | | | | 21831 | 11057 | 10774 |
| ۴ | شینکۍ | 31363 | 15947 | 15416 | | | | 31363 | 15947 | 15416 |
| ۵ | نوبهار | 24111 | 12323 | 15416 | | | | 24111 | 12323 | 15416 |
| ۶ | اتغر | 13816 | 6973 | 6844 | | | | 13816 | 6973 | 6844 |
| ۷ | شملزایی | 35886 | 18037 | 17849 | | | | 35886 | 18037 | 17849 |
| ۸ | میزانه | 21250 | 10960 | 10290 | | | | 21250 | 10960 | 10290 |
| ۹ | ارغنداب | 36298 | 18682 | 17616 | | | | 36298 | 18682 | 17616 |
| ۱۰ | دایچوپان | 43742 | 22340 | 21402 | | | | 43742 | 22340 | 21402 |
| ۱۱ | کاکړ | 26766 | 13716 | 13050 | | | | 26766 | 13716 | 13050 |
| ټولټال: | | **377648** | 192345 | 185303 | **12703** | 6392 | 6311 | 364945 | 185953 | 178992 |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| د نفوس سلنه د عمر د ډلو پر بنسټ | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ګڼه | عمر د سن پر بنسټ | نارینه | ښځینه | دټول نفوس سلنه |
| ۱ | د ۱۸ کالو نه کم عمره سلنه | 43,78% | 41,89% | 42.835% |
| ۲ | د ۱۸ نه تر ۴۰ کلنۍ پورې | 48,36% | 50,61% | 49.485 |
| ۳ | د ۴۰ کلونوځخه پورته کسانو سلنه | 7.86% | 7.5% | 7.68% |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نفوس تناسب د نارینه  او ښځینه وو د شمېر په تفکیک:

دزابل ولایت دنارینه وو  نفوس 192345 اودښځینه وو نفوس شمیر185303 تنه  اټکل شوی دی.

### د عمر په تناسب د کار ځواک شمېر:

که څه هم په زابل ولایت کی تر اوسه کومه سروی  په دی برخه کې نده ترسره شوی خو بیاهم د دي ولایت اکثریت وګړی ځوان او دکار توان لری .

## د جنسیت پر بنسټ د کارې ځواک شمېر:

په دی برخه کی هم تر اوسه کوم مشخص سروی ندی ترسره شوی چی د کارځواک د ټول ولایت په پرتله معلوم کړی خو بیاهم اکثریت دکارځواک نارینه ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د سکټور پر بنسټ د وګړو د بوختیا تناسب( کرهنه،صنعت، خدمتونه، تولید، خصوصي سکټور او سوداګري، عامه اداره/دولت) او لیک لوستی کاري ځواک:

تر اوسه پوری داسی سروی چی د وګړو د بوختیا تناسب وښایی نده ترسره شوی خو د تخمینی او د سکټورنو د موجوده معلوماتو پر اساس په لاندی ډول ښودل کیږی

| شماره | دسکتور نوم | لوستی کاری ځواک | | | نالوستی کاری ځواک | | | ټول تشکیل | دخالی بستونو تعداد |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | نارینه | ښځینه | ټول | نارینه | ښځینه | ټول | | |
| ۱ | پوهنه | 858 | 71 | 929 | 319 | 15 | 334 | 1938 | 676 |
| ۲ | حکومتوالی | 393 | 10 | 403 | 78 | 2 | 80 | 526 | 68 |
| ۳ | روغتیا او خواړه | 360 | 73 | 433 | | | 72 | 505 | 16 |
| ۴ | زیربنا او طبعی منابع | 106 | 1 | 107 | 80 | 0 | 80 | 218 | 29 |
| ۵ | دټولنیز خوندیتوب | 44 | 0 | 44 | 13 | 0 | 13 | 67 | 7 |
| ۶ | کرهنه او د کلیو پراختیا | 60 | 0 | 60 | 28 | 0 | 28 | 117 | 29 |
| ۷ | اقتصادي وده او د خصوصی سکتور پیاوړتیا | 75 | 0 | 75 | 8 | 0 | 8 | 83 | 1 |
| ۸ | امنیت | - | - | - | - | - | - | - | - |
| ټول | | 1896 | 155 | 2051 | 526 | 17 | 615 | 3454 | 833 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## اقتصادي او ټولنيزې پراختيا ته يوه کتنه

## د کرهني سکټور

### ۱/۲د سکتور په هکله لنډ مالومات







دکرهڼې او اوبو لګولو سکتور دهيواد په کچه له مهمو سکتورو څخه شميرل کيږی د کرهڼې او کليوالي پرمختيا سکټور د يو مهم سکټور په حيث د کرهڼې د محصولاتو او صنايعو لپاره د خامو موادو څخه د ګټې اخيستنې اوچمتو کولو په برخه والي کې مهم او بنسټيز نقش لوبوي، په دې سکټور کې د حکومت ستراتيژيک هدف دادی چې اوسنۍ دوديز کرنيز سيستم په تجارتی کرهڼه باندې بدل کړي ځکه چې دا کار به د معيشت لپاره د خصوصی سکټور پانګې جذب کړای شی.

دکرهڼې او اوبولګولو رياست د کرهڼې په برخه کی  لاندی اهداف لری.

د کوپراتيفي غورځنګ سالم انکشاف او د زراعتي توليداتو د کچې لوړوالی، د زابل په ټولو ولسواليو او کليو کې د قانون او د کوپراتيفونو د پرنسپ مطابق د کوپراتيفونو د سازمان د ايجاد او تاسيس له لارې د زابل  ولايت په سطحه دحيوانی محصولاتو د کچی لوړول او د مالدارانو د اقتصاد تقويه کول، د بزګرانو د ژوند ښه والی د محصولاتو د لوړوالی پواسطه چه په منظم او مناسب ډول امراض، افات او د چاپيريال د ککړتيا مخنيوی وشی، د حاصلاتو د کچی لوړول د اصلاح شويو تخمونو، د نوی او مناسبی تکنالوژی او اصلاح شوی کرهڼيزو عملياتو د معرفی پواسطه، د حاصلاتو د کچی لوړول د اصلاح شويو تخنيکی وسايلو او ماشين آ لاتو د معرفی پواسطه؛)په دې برخه کې د ولايت د اقتصادي او ټولنيزو څانګو په اړه لنډ مالومات وړاندې کيږي او پر هغه مهمو مالوماتو باندې ټينګار کيږي چې په لاندې برخه کې تشريح شوي دي.

په افغانستان کې کرهڼه د اقتصادي ودې ، غربت کمولو او بيکاري او د خوړو د خونديتوب لپاره لوړ ظرفيت لري ، چې  په دی  سکتور کې د کاري ځواک 44 سلنه کار کوي.

کرهڼه په افغانستان کې د پانګونې لپاره ښه فرصت دی کوم چې د ناخالص کورني محصول نږدې ځلورمه برخه جوړوي (د کوکنارو پرته) او د خدماتو وروسته په GDP کې دوهم خورا مهم سکتور دی، دغه سکتور به  په راتلونکې کې د لوی ظرفيت سره د اقتصادي ودې، بهرنۍ پانګوونې راجلبولو او د دولت مالي سرچينو  کمولو کې چې د بهرنيو مرستو لخوا تمويليږی مهم رول ولوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرهنې، مالداری او کلیو پراختیا ریاستونه د احتمالي کاري فرصتونو رامینځته کولو ښه ظرفیت لري ، چې دا به د کار ځواک ، د کرنې په کارونو کې د میرمنو برخه اخیستنه او نور زیان منونکي طبقې لکه (بې وزله ، بې ځمکي بزګران او کوچیان) کم کړي او د فقر او غربت سطحه به ټیټه کړی، د هیواد په ښاری او کلیوالي سیمو کې به د خوراکي توکو خوندیتوب او چمتو کولو کې د پام وړ برخه ولري او کلیوالو خلکو ته د لومړنیو خدماتو وړاندې کولو ، د کرهنیزو پروژو پراختیا او پلي کول، اوبه خور ، څاروی ، د سیمه ایزو ادارو پیاوړتیا ، د بدیل معیشت دوامداره وده او د کوکنارو د کښت کمول ، د ځمکې ښه تنظیم کول او د اقلیم د بدلون او د بیلابیل ککړتیاوو سره په مقابله کې د چاپیریال د وضعیت ښه کولو برخی ورسره پراختیا او وده کولی شي.

### ۲/۲ځمکه او اوبه لګونه:

زابل ولایت دافغانستان دنوی ملکي ویش اواداري جوړښت له مخي دریمی درجه ولایت وو چې خوشبختانه په ۱۳۹۸ کال کې یی دوهمه درجه ولایت ته ارتقا وکړه چې دقلات ښار یی اداری مرکز دی ، زابل ولایت د مرکز قلات په ګډون ټولي۱۱ ولسوالۍ لري چې عبارت دی له : ارغنداب، اټغر، دایچوپان، کاکړ (خاک افغان)، میزانه، نوبهار، شاه جوی ،شملزایی ،شینکۍ ،اوترنک جلدک او زابل ولایت تقریباً د(17,00) څخه تر (2,000) پوری کلي لري چې د زابل ولایت د زراعت، آبیاری او مالداری د ریاست د معلوماتو پر اساس د152,000هکتاره زراعتي ځمکي لرونکي او د اطلس د معلوماتو پراساس 121305 هکتاره زراعتي ځمکي لرونکي ولایت شمیرل کیږی چې په دې ولایت کې په تیرو دریو کلونو کې د ۵۰ تر ۵۰۰ جریبه ځمکه تر قانوني کښت لاندې راغلې ده او د غنمو په حاصلاتو کې ۳ سلنه زیاتوالی راغلی، خو اوس هم د کرنیزو اساسي تولیداتو په وارداتو کې کمې نه دی راغلی. په دې ولایت کې ټولټال90,000 هکتاره للمي او 62,000آبی ځمکه شتون لري، د دې ولایت بزګران کرنیزو پورونو ته هیڅ لاسرسی نه لري.

### ۳/۲ زراعتی ځمکه د ولسوالیو په کچه:

د دې ولایت ډیره کمه برخه انګور چې ممیز ترې جوړیږي دولایت په سطحه یوازنی موجود د پروسس سیستم دی یوازې د کرهنې په ریاست کې دعامه پوهاوي داسې پروګرامونه شته چې دهقانان باید هغه نباتات وکري چې لږې اوبه غواړي او یا حیواني او کمپوست چې په خاوره کې د اوبو ساتلو ظرفیت لری تطبیق شوي وي.

**د زابل ولایت کرهنیزه ځمکه د ولسوالیو په تفکیک سره :**

| شمیره | د ځای نوم | د ځمکی ډول | د کرنی موسومونه | سیمه په هکتار | سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مرکز قلات | زراعتی | پسرلنی | ۱۲۸۵۲ | |
| ۲ | شاجوی | زراعتی | // | ۸۸۹۲ | |
| ۳ | ترنک جلدک | زراعتی | // | ۹۰۰۰ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | شینکی | زراعتی | // | ۳۵۹۰ | |
| ۵ | سیوری | زراعتی | // | ۲۵۸۱ | |
| ٦ | ارغنداب | زراعتی | // | ۵۲٦۰ | |
| ۷ | نوبهار | زراعتی | // | ۲۹۷۰ | |
| ۸ | شملزایی | زراعتی | // | ۳۱۵۰ | |
| ۹ | اطغر | زراعتی | // | ۳۱۹۲ | |
| ۱۰ | کاکړ | زراعتی | // | ۳۲۰۰ | |
| ۱۱ | میزانه | زراعتی | // | ۳۹۸۱ | |
| ټولټال | | | | ٦۲۰۰۰ | |

## ۴/۲ داوبو لګولو دکانالونو شمېر او ظرفیت

- خان شملزایی 150 هکتاره - خورزی 350 هکتاره - کاکړان 230 هکتاره
- حاجی ترین 100 هکتاره - باکرزایی بالا 280 هکتاره - لب دریا 50 هکتاره
- حاجی غلام حسن خان 180 هکتاره - موسی خیل 90 هکتاره - خان کلی 310 هکتاره
- حاجی مزار ګل محمد 220 هکتاره - عیسی خان 200 هکتاره
- خارجوی 210 هکتاره - مغزایی 400 هکتاره - لیکک 250 هکتاره
- حاجی اختر محمد 60 هکتاره -ملادین 210 هکتار - سپینه غبرګه 500 هکتاره

## ۵/۲ د کرهنیزو اوبو د سرچینو شمېر او ظرفیت:

- دزابل ولایت په اړونده سمیو کی د اوبو لوی سرچینې په لاندی ډول په ګوته شوی دی
- - په مرکز قلات کی د ترنک سیند
- د ارغنداب سیند چي د بابا د غرو څخه سرچینه اخلی
- - په مرکز قلات کی د نوخیز کاریز، کاګری، شین غر، قلعه ریګی، د مجید خان کاریز او نور
- - د شیرآباد چینی، د چهل دختران د اوبو ګدام او نور
- - د خاوری څاګانو ۳۵۰۰ حلقې
- خړوبې کرنیزې ځمکې(خړوبې، للمې)او ظرفیت د هکتار پر بنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځروبې کرهنيزې ځمکې(ځروبې، للمې)او ظرفيت د هکتار پر بنسټ**

| شماره | د ځمکې ډول | سيمه په هکتار | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کرهنې وړ ځمکې عمومي ساحه | ۱۵۲۰۰۰ | |
| ۲ | د کرهنی وړ ځمکه ( ابی ځمکه) | ٦۲۰۰۰ | |
| ۳ | دځرځايونواوچمن زارونوځمکه | ۵۰۰۰ | |
| ۴ | تاکستانونه | ۱۵۰۲۵ | |
| ۵ | د ميوو باغونه | ۲۹۰۰۰ | |
| ٦ | طبيعی ځنګلونه | ۲۰۰۰ | |
| ۷ | للمی ځمکه | ۹۰۰۰۰ | |
| ۸ | غير کرنيزه ځمکه | ۸۴۳۲ | |
| ۹ | د سيندونو غاړی | | |

## ٦/۲ کرهنيز محصولات

د کرهنيزو او مالداري محصولاتو ارزښت:

زابل ولايت چې داقليم له اړخه ګرم موسم او هوا لری او په ګرم اقليم کی نباتات او سبزی جات ښه وده کوی چې له دی جملی څخه په موسمی ډول د زابل په ۱۱ ولسواليو کی کی غنم ، اوربشی، وريجی، جوار، ايړدن، نخود، لوبيا، دال، ماش او سويابين په مناسبه پيمانه کرل کيږی.

| ګڼه | د نبات نوم | ولسوالی | کرنيزه سيمه په هکتار | ټولټال محصول په ټن |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | غنم | د ولايت په سطحه ابی او للمی | ۱۱۰۰۰ | ۲۱۰۰۰ |
| ۲ | اوربشې | // // | ۴۰۰ | ۱۰۰۰ |
| ۳ | وريجې | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۴ | جوار | // // | ۰ | ۰ |
| ۵ | ايړدن | ۰ | ۰ | ۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٦ | نخود | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۷ | لوبیا | // // | ۲۰ | ۲۱ |
| ۸ | دال | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۹ | ماش | // // | ۳۰ | ۵۲،۵ |
| ۱۰ | سویابین | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۱ | زعفران | // // | ۲ | ۱۸۰۰ گرام |
| ۱۲ | توره ځیره | // // | ۲۵۰ | ۳۷۵ |
| ۱۳ | سپینه ځیره | // // | ۲۰۰ | ۱۴۲ |

## میوې:

| شمیره | د میوې نوم | ولسوالی | کرنیزه سیمه په هکټار | ټولټال محصول ټن |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | انگور | د ټولو ولسوالیو په کچه | 15,000 | 56,000 |
| ۲ | زردالو | د ټولو ولسوالیو په کچه | 3,050 | 11,600 |
| ۳ | انځیر | په دوه ولسوالیو کې | 6,055 | 22,700 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴ | بادام | د ټولو ولسوالیو په کچه | 11,200 | 1,24,888 |
| ۵ | خټکی | په ۱۱ ولسوالیو کی | 500 | 5,000 |
| ٦ | هندوانه | په ۱۱ ولسوالیو کی | 650 | 5,950 |
| ۷ | شکر پاره | په ۱۱ ولسوالیو کی | 2,600 | 6,540 |
| ۸ | انار | په دوه ولسوالیو کې | 500 | 6,500 |
| ۹ | منېي | په ۵ ولسوالی ولسوالی | 60 | 1,000 |

د زابل ولایت په ۱۱ ولسوالیو کی لاندی میوی په لویه پیمانه تولیدیږی چی دمیوو له جملی څخه شفتالو،زردالو، توت، بادام، انګور، شکرپاره، انار، الوچی، انځیر، منېی او داسی نور چې د یادو میوو د جملی څخه بادام، کشمش، انځیر، انار او شکرپاره نورو ولایتونو او له هیواد څخه بهر ته صادریږی.

په زابل ولایت کې بادام، انګور، کشمش، شکرپاره ، انځیر او انار په پراخه پیمانه تولیدیږی دغه پورته یی تخمنی ارقام دی.

## سبزی جات:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زابل ولایت یو له حاصل خیزو او سبزی تولیدونکو ولایتونو څخه دی ځکه چی اکثره وګړی یی په کرکیله او بزګری باندی بوخت دی،زابل کی دسیزیجاتو دتولید کچه د ځینو دلایلو له امله دومره زیاته نده چی دارتیا مطابق محصولات راټول کړی . هغه سبزی چی دزابل په ولایت کی تولیږی لکه رومیان، توربانجان، شنه پیاز او کلچه پیاز، ګازری او نورسبزیجات او ترکاری، دیادونی وړ ده چی پورته ذکرشوی دزابل په ۱۰ ولسوالیو کی کرل کیږی.

| شمیره | د سبزیجاتو ډول | د کرنې موقعیت | ترپوښښ لاندې سیمه په هکتار | د کلني تولید مقدار په متریک ټن |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | رومیان | په ۱۰ ولسوالیو کی | ۷۵ | ۵٦۰ |
| ۲ | تور بانجن | په ۱۰ ولسوالیو کی | ۴۰ | ۱۳٦ |
| ۳ | شلغم | په ۱۰ ولسوالیو کی | | |
| ۴ | پټاټې | په ۱۰ ولسوالیو کی | | |
| ۵ | بادرنګ | د ټولو ولسوالیو په کچه | | |
| ٦ | سبزی کدو | د ټولو ولسوالیو په کچه | | |

## وابښه:

| شمیره | د ونښو ډول | د کرنې موقعیت | تر پوښښ لاندې سیمه په هکتار | د کلني تولید مقدار په متریک ټن |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | رشقه | په ۱۰ ولسوالیو کی | ۰ | ۰ |
| ۲ | شوتله | په ۱۰ ولسوالیو کی | ۰ | ۰ |
| ۳ | تروې اوربشې | په ۱۰ ولسوالیو کی | ۰ | ۰ |

په دی اړه هیڅ ارقام نشته د کرهنې ریاست سره.

## د کرهنیزو او کلیوالي بنسټیزو محصولاتو ارزښت

زابل چی یو کرهنیز او اوبیز اقلیم لری، کرهنیز او کلیوال محصولات یی دنور ولایتونو په پرتله په مناسب اندازه دی اود کلیوالو محصولاتو څخه په لاندی جدول کی یادونه شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمیره | معمول کلیوالي صنایع | د خلکو په عوایدو ک دبنسټیزو محصولاتو ونډه |
|---|---|---|
| ۱ | مالداري (لبنیات،پنیر) | د زابل ولایت ۹۵٪ وګړی د مالداری عواید په عنعنوی ډول ترلاسه کوی او مصرف وی یی. |
| ۲ | (لاسي صنایع)خامک دوزي،خیاطي،چرمه دوزی،مهر دوزي | - |
| ۳ | مرغداري | په ټول زابل کښی ۳۰ خصوصی فارمونه وجود لری |
| ۴ | صابون سازي | - |
| ۵ | د شاتو مچیو روزنه | په زابل ولایت کی د شاتو فارمونه وجود نلری خو عام خلک یی په خپلو کلیو یا کورونو کی لری |

## ۷/۲ بنسټیز کرهنیز صادراتي محصولات

د احصایي د راپور او سروی پایلي په ډاګه کوی چې کرهنه په صادراتو او په افغانستان کې د کار او عاید په رامینځته کولو کې ستر رول لوبوي د تیرو کلونو د احصاییې معلومات ښیی چې په صادراتو کې د کرنې ونډه 3.839 میلیون ډالره وه، د صنعت ونډه یوازې 8.29 میلیونه وه او خدماتو برخه صفر وه.

دا چې افغانستان یو کرهنیز هیواد دی او زابل هم د نورو ولایتونو سره په څنګ کې د کرهنیزو محصولاتو د تولید په کچه په ښه موقف کې قرار لری او ددی ولایت اکثریت صادرات زارعتی محصولات تشکیلوی چې په خامه او د اساسی پروسس څخه بغیر نورو ولایتونو او ګاونډیوهیوادنو ته صادریږی او په یاد ولایت کې د زارعتی محصولاتو د پروسس او بسته‌بندی لپاره اړینی اسنتیاوی او امکانات نشته.

## بنسټیز کرنیز وارداتي محصولات

- شفتالو، نارنج، ناک، امرود، املوک، خرما، توت، لیمو
- لوبیا، سویابین، دال، نخود، ایرن، جوار،وریجی
- سبزیجات او میوی

## د کرهنیزو او مالداري فارمونو شمېر او ظرفیت

اقلیم ته په کتو سره زابل ولایت د فارمونو د تاسیس او تولیداتو لپاره یو ښه او مناسب چاپیریال لری په لږه اندازه وګړی یی په فارمونو کی دتولید په برخه کی په کار بوخت دی چی په لاندی ډول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمېره | د فارم نوع | تعداد | | د فی فارم ظرفیت | مجموعی ظرفیت |
|---|---|---|---|---|---|
| | | واحد مقیاس | شمیر | | |
| ۱ | د شهدو مچیو فارمونه | فارم | ۰ | | |
| ۲ | ماهیایانو فارمونه | فارم | ۰ | | |
| ۳ | د چرگانو فارمونه | فارم | ۱۵ | ۱۰ | ۱۱۰ |
| ۴ | د غواگانو فارمونه | فارم | ۱۰ | ۵۰۰۰ | ۷۵۰۰۰ |
| ۵ | د چرگورو د تولید هیچری | باب | ۰ | | |
| ٦ | د چرگانو مسلخ | باب | ۰ | | |
| ۷ | د ترکیبی وښو د تولید فابریکه | باب | ۰ | | |
| ۸ | د چرم د پراسس فابریکه | باب | ۰ | | |

### د سرو خونو شمېر

په زابل ولایت کی تر اوسه پوری کومه سرہ خونه نده جوړ شوي

**مالداری او زیربنایی تاسیسات (خصوصی سکتور )**

### ۸/۲ کار او کرهنه

د هغه ښځو شمېر چې د کرني په برخه کې په کار بوختي دي

دکرهنې په برخه کی دښځو د بوختیا په اړه دقیق معلومات نشته خو ویل کیږی چی زرگونه ښځی دکرهنیی په سکتور کی په شکل داشکالو په فعالیت بوختی دی ځکه چی په افغانی ټولنه بلخصوص په کلیوالو سمیو کی ډیری ښځی دکرهنې چاری مخ ته بیایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۹/۲ انکشافی بودجه عایدات او پانګونه:

### د کرهنې سکتور د تیرو کلونو د انکشافی بودجه:

**د کرهنی سکټور د پراختیا په برخه کې په تېرو کلونو کې د کلنی بودیجې ټولټال**

| ګڼه | سکتور | اداره | کال | راغلی بودجه | مصرف شوی بودجه | د مصرف فیصدی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د کرهنې او انکشاف دهات | د کرهنې او مالداری ریاست | 1395 | ۱۱۳۰۹۰۶۱ | ۸۷۷۰۲۹ | |
| | | | 1396 | ۱۲۹۰۱۰۳۲ | ۹۰۱۰۳۲۲ | |
| | | | 1397 | ۱۲۰۶۳۷۷ | ۸۰۳۰۰۲۲ | |
| | | | 1398 | ۱۲۹۰۸۹۷۷ | ۷۹۵۷۱۱۴ | |
| ټولټال | | | | ۳۸۳۲۵۴۴۷ | ۲۵۸۷۴۵۱۷ | |

ددی سکتور مربوطه د کلیو بیارغونی او پراختیا ریاست د خپلی بودجی په اړه هیڅ معلومات ندی شریک کړی او د کرّهنې سکتور د تیرو کلونو د شته عواید یادونه نده کړی.

### د زراعت او انکشاف دهات سکتور د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا د موجوده او بالقو سرچینو او پوتانشیل تحلیل:

زابل د موقعیت له لحاظ دهیواد شمالی، مرکزی او ختیځې سیمې د هیواد د لویدیځو او سهیلي سیمو سره وصلوي همدارنګه زابل ولایت د شملزایی په ولسوالی کې 63 کیلومتره ګډه پوله د پاکستان هیواد سره لری ددې موقیعت له امله د شملزایی ګمرک دځانګړی اقتصادی ارزښت لرونکی دی.

زابل هم په نسبی توګه د هیواد د زراعتی ولایتونو له جملې څخه دی چې 152,000 همکتاره زراعتی آبی او للمې ځمکه لری چې 62,000هکتاره آبی ځمکې، 90,000 هکتاره للمې ځمکې، 29,000 هکتاره میوره لرونکې ونې، 2,000 هکتاره ځنګلات تشکیلوی او پاتې نوریی هم تاکستانونه، وچې ځمکې د اوبو او واورو تر پوښښ لاندې سیمې تشکیلوی.

ددې ولایت ډیری ولسوالی مناسبه آب وهوا(اقلیم) ، په کافی اندازه اوبه او حاصلخیزې ځمکې لری چې دمختلفو زراعتی محصولاتو، میوه لرونکو ونو او حیواناتو د روزنې لپاره مناسب دی چې د غذایی خوندیتوب،کاری بوختیا( اشتغال زایی) ، دفقر کموالی او دخلکو د ژوند دسطحې په ښه کولو کې مهم رول لری.

د ۲۰۱۶-۲۰۱۷ کال دافغانستان دخلکو دژوند د وضیعت د سروی د ارقامو په اساس د زابل ولایت د 80-85 سلنه کاری ځواک د کرهنې په سکتور کې په کار بوخت دی ددې له امله زابل ولایت یو مهم زراعتی، ترانزیتی او سوداګریز ولایت دی همدارنګه د زرعت او کرهنې په برخه کې مهم رول لوبوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زابل ولایت په سیمه ایزه او ملی کچه سوداګر لری چې په وارداتو او صادراتو او همدارنګه په کندهار او هرات کې لویی فابریکې لری چې دا پخپله د خصوصی سکتور د ودې لپاره یو مهم مزیت دی که په دې ولایت کې ورته د سرمایه ګذاری فرصتونه برابر شی په دې ولایت کې به لویی د پروسس، تولید، بسته بندی او خدماتو فابریکې جوړې کړی.

### په زابل ولایت کې د کرهنې په برخه کې د پانګونې فرصتونه:

زابل ولایت د خپل ستراتیژیک موقیعت او زراعتی محصولاتو له امله د پانګونې لپاره ښه فرصتونه لری چې په لاندې ډول خلاصه کیږي

### د کرهنیزو محصولاتو په برخه کې سرمایه ګذاری:

د زابل ولایت ډیری ولسوالی مناسبه آب وهوا(اقلیم) ، په کافی اندازه اوبه او حاصلخیزې ځمکې لری چې دمختلفو زراعتی محصولاتو، میوه لرونکو ونو او حیواناتو درروزنې لپاره مناسب دی چې د غذایی خوندیتوب، کاری بوختیا، دفقر کموالی او دخلکو د ژوند دسطحې په ښه کولو کې مهم رول لری.

خصوصی سرمایه ګذاری چې وکولای شی زراعت سوداګریز کړی تر اوسه وجود نلری چې عمده دلایل یی د دهقانانو کم عواید او دعصری او فنی زراعتی تجهیزاتو نه استفاده نه کول دی

د اقتصاد ریاست په دې باور دی چې ددهقانانو وصلول دسوداګرو سره اودودیزه دکرهنې سیستم په عصری او سوداګریزه کرهنه بدلولو سره به زابل ولایت د خپل ترانزیتی موقیعت له امله چې دهیواد شمالی او مرکزی ولاییتونه د هیواد د لویدیځو او سهیلی لولایتونو سره نښلوي اعظمی استفاده وکړی او دهقنان به وکولای شی چې په کم لګښت او کم ترین وقت سره خپل زراعتی محصولات د افغانستان سیمه ایزو بازارونو ته ورسوی او دولایاتو تر منځ به ښه د سوداګری زمینه برابره کړي.

دولت د زراعت او صنعت په پرخه کې د میکانیزه سازی زمینه برابرولو، ددهقانانو او صنعت کارانو د ظرفیت په لوړولو او دمالی او کومکی سهولتونو په برابرولو سره کولای شی دا کوچنی تجران تقویه او په لویو سوداګرو او پانګوالو یی بدل کړي.

### 1 - قوریه داری اوګلخانه:

د زرعت او مالداری ریاست د ارقامو په اساس فعلا زابل ولایت د انګورو، بادامو، انارو، انځیرو، زردالو او توتو دقوریو درلودونکی دی چې ددې محصولاتو ډیری نهالونه(ونې) په دودیزه توګه کرل او ساتل کیږی دا چې دنورو ولایاتو سره چې غوره نیالګی ولری د وصل او سوداګریزو اړیکو زمینه د قوریه داری په برخه کې نه ده برابره شوی چې په دې برخه کې دسرمایه ګذاری لپاره یی یو آسانه او مهم فرصت برابر کړی دی ځکه دا ولایت د بادامو، انګورو، انارو او انځیرو په برخه کې د حاصل خیزو ولایاتو څخه شمیرل کیږي چې په کلنی توګه( 124888) ټنه بادام، (53000) تنه انګور، (6500) ټنه انار، (22500) ټنه اځنیر او (6500) ټنو په شاوخوا کې شکرپاره سیمه ایزو او نړیوالو بازارونو ته وړاندې کوی اما متاسفانه ددې محصولاتو عواید او ګټه ددې ولایت بزګرانو او خلکو ته نه راګرځي ځکه یواځې دحاصلاتو د راجمع کولو په وخت کې د کاریګرو مزد دهقانانو او کاریګرو ته ورکول کیږي او بس.

### 2 - د بادامو، انځیرو، انګورو او انارو دمحصولاتو د پروسس دمراکزو جوړول:

د زابل د اوبو او هوا (اقلیم) سره د بادامو توافق دا محصول دزرعت په برخه کې یو استراتیژیک نبات جوړ کړی چې دعواید په رامنځته کولو، اشتغال، اقتصادي ودې او دفقر دکچې په کموول کې مهم رول لري

دموجوده معلوماتو پر اساس چې دزراعت او مالداری ریاست، معتبرو انترنیتي سایتونو او ددې ولایت د اوسیدونکو څخه ترلاسه شوی دی ددې ولایت زیاتره برخه د بادامو په کبنت پوښل شوی ده چې شاوخوا (11200) هکتاره ځمکه ییی پوښلې ده چې په کلنی توګه( 576300000) افغانۍ عواید په لاس ترې را ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اساس د بادامو دحصلاتو د ښه والی لپاره هڅې کیږي تر څو ددهقانانو د ژوند وضیعت، اسباب او وسایل، دمناسب چاپریل برابرول،او دحمایت او هڅونې کچې ته ښه والی ور ښښل تر څو د کمیت او کیفیت له لحاظه د بادامو په حاصلاتو کې ښه والی رشی.

د زابل ولایت د موجوده زراعتی محصولاتو دښې استفادې او دخلکو د زراعتی عواید د زیاتوالی لپاره زابل ولایت د بادامو د پروسس کارخانه چې د ۳ متریک ټن ورځنی ظرفیت سره چې د بادامو د حاصلاتو په زیاتوالی کې به رغنده رول ولری ورته ضرورت لری ددهقانانو دعواید د زیاتوالی نه علاوه به په کافی اندازه کاری فرصتونه د نارینه او ښځینه وو لپاره رامنځته کړی چې ممکن شاوخوا 53000 کسانو ته دکار زمینه برابره کړی او دبادامو محصولاتو د بازارموندنې لپاره د نمایشگاوو تر سره کول، د پلور د معیاری مرکزونو جوړول، د مشتریانو د جذب لپاره د ولایاتو ترمنځ د سوداگریزو اړیکول رامنځته کول او دبادامو دمحصولاتو دزیاتوالی لپاره دزیاتې پانگونې د جذب زمینه برابرول اړین دی.

## 3 - انگور:

د زابل د قلیم سره دانگورو دتوافق له امله انگور د زراعت په سکتور کې دوهم استراتیژیک نبات دی چې د عوایدو په رامنځته کولو، کاری بوختیا، اقتصادی ودې او دفقر دکچې په کمولو کې مهم رول لری .

دهغه معلوماتو په اساس چې د زراعت او مالداری ریاست، معتبرو انترنیتي سایتونو او ددې ولایت له خلکو نه ترلاسه شوی ددې ولایت زیاته برخه دانگورو باغونو پوښلې ده چې (15000) هکتاره په شاوخوا کې یې څکه یې پوښتلی ده چې په کلنی توگه ( 3,668,000,000 ) عواید دانگورو د خرڅلاو له طریقه لاسته راځې، په دې اساس د انگورو دحاصلاتو د ښه والی په منظور هڅې کیږي ترڅو ددهقانانو دژوند وضیعت ښه شی، د اسبابو او وسایلو برابرول، دمناسب چاپیریال برابرول او دانگورو دحاصلاتو د ملاتړ او هڅونې کچې ته بهبود وربښل شی ترڅو دکمیت او کیفیت له لحاظه د انگورو حاصلات ښه شی.

په ضمن کې د خوصصی سکتور د پانگونې او علاقمندی په صورت کې د انگورو محصولاتو ته په اسانی سره زنجیره یی ارزش ورکولای شو یعنی انگور په جوسو، کشمشو او داسی نورو حلالو تولیداتو بدل او په فروش یی ورسوو چې په دې کار سره به یو زیات شمیر خلکوته دکار زمینه برابره شی.

دانگورو دمحصولاتو نه دښئ استفادې او دزراعتی عواید دزیاتوالی لپاره یی باید په زابل کې د انگورو د پروسس کارخانې د 5متریک تن ورځنی ظرفیت سره جوړې شی چې په دې سره به نه یواځې د انگورو زراعتی محصولات زیات شی بلکې شاوخوا ۵۳،۰۰۰کسانو ته به دکار زمینه هم برابره شی او په ضمن کې د انگورو د حاصلاتو دبازارموندې لپاره باید نمایشگاه ، د پلور دمرکزونو جوړول، دمشتریانو دجذب لپاره د ولایاتو ترمنځ د سوداگریزو اړیکو رامنځته کول په نظر کې ونیول شی.

## 4 - انځیر:

انځیر هم ددې ولایت د مهمو زراعتی محصولاتو څخه شمیرل کیږي ددې ولایت په شاجوی، میزانه او شهرصفا ولسوالیو کې خلک د انځیرو په باغداری بوخت دي، د زرعت او مالداری ریاست د ارقامو په اساس ددې ولایت ( 6055 ) هکتاره ځمکه کې انځیرو پوښلې ده چې په کلنی توگه ورڅخه (4,460550,000) افغاني عواید ترلاسه کیږي، یواځې د انځیرو د پلور له لاری یوه کمه اندازه عواید ترلاسه کیږي په دې بنا د زابل ولایت د انځیرو د حاصلاتو د زیاتوالی لپاره هڅې کیږي چې ددهقانانو د ژوند وضیعت ښه شی، د انځیرو د باغداری، پروسس او ساتلو لپاره اسباب او وسایل، د مناسب چاپریل برابرول او د انځیرو دمحصولاتو نه حمایت او تشویق ته بهبود ورکول ترڅو د کمیت او کیفیت له لحاظه د انځیرو په حاصلاتو کې مثبت تغیرات رامنځته شی .

په ضمن کې د خصوصی پانگونې د فرصت برابرول په صورت کې د انځیرو محصولات کولای شی د محصولاتو د پروسس له لارې (ارزش زنجیره )د محصولات په ارزښت کې زیاتوالی له طریقه زیات شمیر خلکو ته کار برابر شی څکه انځیر کولای شی په عادې شکل، د مربا او وچو انځیرو په ډول په فروش ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زراعتی محصولاتو د اغیزمنې استفادې په موخه باید په زابل ولایت کې د زراعتی محصولاتو د پروسس فابریکې جوړې شی چې هم دزراعتي محصولاتو په زیاتوالی کې رغنده رول ولری او هم په کافی اندازه کاری فرصتونه رامنځته کړی، د انځیرو د محصولاتو د بازرا موندنې لپاره باید د انځیرو نمایشګاه تر سره شی، د پلور د مرکزونو جوړیدل او دولایاتو ترمنځ د مشتریانو د جذب په منظورد د سوداګریزو اړیکو پراختیا په نظر کې ونیول شی.

## 5 - انار:

انار د زابل ولایت یو د مهمو زراعتی او کرهنیزو محصولاتو څخه شمیرل کیږی او ددی ولایت د میزانه، شهرصفا او شینکی ولسوالیو کې د انارو په کرهنه باندی بوخت دی. د هغو معلوماتو پربنسټ چې د زارغت او د انټرنیټی سایټونو څخه تر لاسه شوی دی ددی ولایت یادو ولسوالی کې د (500) هکتاره په اندازه ځمکه د انارو د ونو په واسطه پوښل شوی ده . چې په کلنې ډول د (255,450,000) میلیونه افغانیو په اندازه عواید ورڅخه ترلاسه کیږی چې دغه یو لوی رقم دی د انارو د محصول څخه ددی ولایت لپاره. که څه هم اوس ددی ولایت انار په مستقیم ډول د کندهار ولایت په نامه د هیواد څخه بهر ته صادریږی. ددی ولایت د انارو د حاصلاتو د کیفیت او کمیت د حالت د ښووالی او لوړولو لپاره د اسبابو، وسایلو او دهقانانو د وضعیت لوړولو پروګرامونه جوړ شی او د بزګرانو د تشویق او د محصولاتو لپاره مناسب بازار برابرولو هڅی وشی. په هغه صورت کې د خصوصی سکتور د انارو په برخه د پانګونی ته لیوالتیا پیداکړی او په دی برخه کې پانګونه وکړی نو کولای شو چې دغه محصول د یو بهترین محصلاتی ځنځیر په توګه د هیواد په سطحه خلکو ته کار د زمینی د برابرولو سبب شی او ددی لاری ډیرو خلګو ته د کار زمینه مساعده شی.

ددی لپاره چې د زابل ولایت د انارو د محصول څخه ښه او پرځای ګټه واخیستل او دغه محصول نور هم پراخ شی او ددی ترڅنګ د د بزګرانو د عوایدو د زیاتیدو سبب شی نو باید دلته د انارو د پروسس او بسته بندی یوه فابریکه جوړه شی چې حداقل په یوه ورځ کې د (3)متریک ټنه انارو د پروسس او بسته بندی د ظرفیت ولری چې په دی سره کولای شو ډیرو نارینه او ښځینه وو ته د کار زمینه برابره شی چې لږ تر لږه (25000) تنه به ورسره په کار وګمارل شی او د کار زمینه به ورته برابره شی.

## 6 - غوښې او شیدو د تولید فارمونه جوړول:

د زابل ولایت ډیری اوسیدونکی خپل د اړتیا وړ غوښه او شیدی په محلی شکل د مالداری د ساتنی د لاری په لاس راوړی چې اوس فعلاً په یاد ولایت کې د خوسکی د روزنی ۱۲ فارمونه شته چې ټول ټال په یوه وخت کې د ۴۳۰ خوسکیو د روزنی او چاغوالی ظرفیت لری ددی تر څنګ د ۳۰۰،۰۰۰ په شاوخوا کې محلی غواګانی، ۴۰۰،۰۰۰ ترکی پسونه او د ۲۵۰،۰۰۰ په اندازه محلي وزي ددی ولایت په کلیو او بانډو کې په عنعنوی ډول د خلګو لخوا روزل او ساتل کیږی چې د غوښی، شیدو او نورو حیوانی محصولاتو د تولید مهمه سرچینه ده د زیاتو وګړو د عوایدو د ترلاسه کولو منبع هم ګڼل کیږی

په زابل ولایت کې د چرګانو د روزنی او د غوښی د تولید فارمونه په تجارتی بڼه اوس تازه شروع شوی دی په یاد ولایت کې د چرګانو د روزنی او د غوښی د تولید په برخه کې د کوچنیو او لویو مقیاسو په بڼه د پانګونی ښه فرصتونه شته

د کرهنې او مالداری ریاست د معلوماتو په اساس په زابل کې د چرګانو د روزنی او غوښی او هګی د تولید ۱۲ فارمونه فعاله دی چې د ۵۰۰ څخه تر ۵۰۰۰ قطعو د تولید ظرفیت لری ددی تر څنګ چرګانو د هګیو او غوښی د تولید کوچنی فارمونه هم شته چې عمدتآ د کور د ښځو لخوا یی روزنه کیږی او مالکانی یی ښځی دی چې په ډیره لږه اندازه د مارکیټ غوښتنه پوره کولای شی.

پورته ارقاموته په کتو او د تیرو تجربو په نظر کی نیولو سره د خوسکی او چرګانو د غوښی د تولید په برخه په یاد ولایت کې د پانګونی سره ډیر فرصتونه شته که چیرته په دی برخه کې د خصوصی سکتور او دولت لخوا پانګونه وشی نو کولای شو چې د یو طرفه خلګو د عوایدو په ډیریدو کې مرسته وکړو او د بله طرفه خلګو ته د کار زمینه مساعده شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د وچي میوی د پروسس او بسته بندی د مرکز جوړول:

زابل ولایت په کلنی ډول د (11200) ټنه په اندازه بادام داخلی او بهرنیو بازارنو ته صادیروی او ددی تر څنګ انځر او کشمیش (انګور) د وچی میوی د تولید مهم محصول دی چې ددغه دری تولیدی محصولاتو شتون د پانګونی د جلب او د وچوی میوی د پروسس، بسته بندی او خرڅلاوو لپاره ښه فرصت کیدلی شی او پانګوال کولای چې په دی برخو کې بانګونه وکړی چې دغه کار د باغداری د پراختیا او د بزګزانو د تشویق سبب کیږی چې ددی ولایت د خلګو د ژوندی د سطحی د لوړیدو او د هغو د عوایدو د زیاتیدو سبب کیږی.

د وچی میوی د پروسس او بسته بندی د مرکز دغه میوی ته د صادریدو د جواز د خیستو د زمینی برابرول کولی داخلی او بهرنیو بازارنو ته د وچی میوی د صادیراتو د زیاتیدو سبب شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې سکټور

### د سکټور په هکله لنډ معلومات:

د هیواد په کچه د پوهني سکتور له مهمو او کلیدي سکتورونو څخه شمیرل کیږي چې د راتلونکي نسلونو په روزنه کي رغنده رول لوبوي، د پوهني په سکتور کي د پوهني ریاست، د پوهنتون ریاست، د اطلاعاتو او کلتور ریاست، د سپورت او بدني روزني آمریت، د ښخو چارو ریاست، د چاپریال ساتني ریاست د UNICEF او UNESCO موسسې شامل دي. همدارنګه د پوهني سکټور راتلونکي نسلونه د بریالیتوب او کامیابی په لور سوق کوي، د زابل ولایت د پوهنی سکتور د پخوا په پرتله په خپلو کارونو کې ډیر بریالی ثابت شوی چې دا مهال ډیر زابلیان د زابل په مرکز او ولسوالیو کې ښوونځیو ته ځي او درسونه وایی، ښوونکي او نور پرسونل په خپلو دندو بوخت دي له دی جملی څخه لومړی د زابل ولایت دپوهنی ریاست په لنډ ډول درته تشریح کوو، دپوهنی ریاست پنځه ښوونیزی برنامی لری او په تشکیل کې (۲۵۲) بابه ښوونیز مرکزونه او (۹) بابه دسواد زده کړې فعال کورسونه لري. لدې جملې څخه (۱۹۲) بابه فعال او (٦٠) بابه د ځینو ستونزو له وجهی غیر فعال دی چې برنامه واره معلومات یې په لاندې ډول وړاندی کیږی.

### د عمومي زده کړو برنامه:

د عمومي زده کړو برنامه په خپل تشکیل کې (۲۲٦) بابه ښوونځی لري، د یادو ښوونځیو له جملې څخه(۱۷۷) بابه ښوونځي په مرکز او ولسوالیو کې د زده کوونکو پرمخ پرانیستل سویدی او پاته (۴۹) بابه ښوونځي د ځینو ستونزو له وجهي تر اوسه پوري غیر فعاله دي.

د پورته (۱۷۷) بابه فعال ښوونځیو له جملې څخه (۱۱۲) بابه لومړنی ښوونځی، (۳۲) بابه منځنی ښوونځی او (۳۳) بابه لیسه ښوونځی فعاله دي په یادو فعاله ښوونځیو کی (٦۴۷۰۹) تنه نارینه او (۱٦۱۷۰) تنه ښځینه زده کوونکی په دوامداره شکل د(٦٦۷) تنه رسمی او (۸۳۲) تنه قراردادی ښوونکو له لوری په زده کړه بوخت دی.

همدارنګه په تیرو څو کلنو کې په ښوونځیو کې د نارینه او ښځینه زده کوونکو د شمولیت کچه په بې ساري توګه ډیره شوی ده له ۱۳۹۴ه ش کال څخه تر ۱۳۹۸ه ش کال پوري په نوموړو ښوونځیو کې زیات شمیر زده کوونکې جذب شوي دي چې شمیر یې (۵۲٦۲۳) تنو ته رسیږي، چې له دې جملې څخه (۴۰۱۵۸) تنه نارینه زده کوونکي او (۱۲۴٦۵) ښځینه زده کوونکي دی چې په ښوونځیو کې ددې پراخې شمولیت کچې په نتیجه کې له (۱۳۹۴ه ش) کال څخه بیا تر (۱۳۹۸ه ش) کال پوري د ۱۲ ټولګی څخه د فارغانو شمیر (۲۷۹۱) تنو ته رسیږي ، چې له جملې څخه د نارینه فارغینو شمیر (۲۴۳۱) تنه دی او د ښځینه فارغینو شمیر (۲۵۹) تنه دی چې دا د زابل ولایت لپاره په ښوونیزه برخه کې یوه لویه لاسته راوړنه ده.

### د اسلامي زده کړو برنامه:

د اسلامي زده کړو برنامه په خپل تشکیل کې (۱۷) بابه د اسلامي زده کړو ښوونیز مرکزونه لری، دیادو ښوونیزو مرکزونو له جملې څخه(۸) بابه په مرکز او ولسوالیو کې د زده کوونکو پرمخ فعال او پاته (۹) بابه د ځینو ستونزو له وجهي تر اوسه پوري غیر فعاله دي.

د پورته (۸) بابه فعال اسلامي ښوونیزو مرکزونو له جملې څخه (۲) بابه دارالحفاظونه، (۵) بابه مدرسې او (۱) باب دارالعلوم فعاله دی، په یادو فعاله اسلامي ښوونیزو مرکزونو کی (۲۲۳۷) تنه نارینه او (۸۰۲) تنه ښځینه زده کوونکی په دوامداره شکل د(۲۳) تنه رسمی او (۲٦) تنه قراردادی ښوونکو له لوری په زده کړه بوخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د ښوونکو د روزنې (تربیه معلم) برنامه:

دښوونکو دروزنې برنامه د پوهنې ریاست له پنځو برنامو څخه یوه برنامه ده چې په خپل تشکیل کې (۳) بابه ښوونیز مرکزونه لري، دیادو مرکزونو له جملې څخه(۱) بابه دارالمعلیمن په مرکز قلات او دوه بابه حمایوي مرکزونه په شاه جوی او شنکی ولسوالیو کې دمحصلینو پرمخ پرانیستل سویدی.

په پورته (۳) بابه فعال ښوونیزو مرکزونو کې (۱۰۴) تنه نارینه او (۱۰۰) تنه ښځینه محصلین په دوامداره شکل د(۲۴) تنه رسمی ښوونکو له لوری په زده کړه بوخت دی.

### دسواد زده کړې برنامه:

دسواد زده کړې برنامه په خپل تشکیل کې (۹) بابه کورسونه لري، یاد کورسونو په مرکز او ولسوالیو کې دزده کوونکو پرمخ پرانیستل سویدی، په ذکر سوی(۹) بابه فعال کورسونو کې (۱۰۹) تنه نارینه او (۲٦) تنه ښځینه زده کوونکی په دوامداره شکل د(۹) تنه رسمی ښوونکو له لوری په زده کړه بوخت دی.

### دتخنیکی او مسلکی زده کړو برنامه:

دتخنیکی او مسلکی زده کړو برنامه چې مخکې د پوهنې ریاست له برنامو څخه یوه برنامه وه اوس په مستقیل ډول ښوونیز فعالیتونه مخته وړی، په خپل تشکیل کې (٦) بابه دتخنیکی و مسلکی زده کړو ښوونیز مرکزونه لري، دیادو مرکزونو له جملې څخه(۴) بابه په مرکز او ولسوالیو کې دزده کوونکو پرمخ پرانیستل سویدی او پاته (۲) بابه دتخنیکی ومسلکی زده کړو ښوونیز مرکزونه د ځینو ستونزو له وجهې تر اوسه پوری غیر فعاله دی.

دپورته (۴) بابه فعال ښوونیز مرکزونو له جملې څخه (۲) بابه لیسه، (۲) بابه انستیتونوته فعاله دی په یادو فعاله ښوونیزو مرکزونو کې (۳۰۰) تنه نارینه محصلین په دوامداره شکل د(۱۳) تنه رسمی او (٦) تنه قراردادی ښوونکو له لوری زده کړې کوی.

د زابل ولایت لپاره یوه بله ستره لاسته راوړنه د زابل پوهنتون تاسیس دی چې په ۱۳۹۵ لمریز کال کې افتتاح شو. دا پوهنتون هغوځوانانو ته چې ترډې وړاندې یې دهیواد په نورو پوهنتونونو کې یا دکور څخه دلیرې والی له امله لوړې زده کړې نشوی تر سره کولای دتحصیل دبشپړولو لپاره یونبه فرصت دی، د زابل په دولتې پوهنتون کې (۱۲۳) تنه محصلین لوړې زده کړې کوی چې (۷) تنې یې اناث تشکیولې. دزابل پوهنتون داستاذانو شمیر (۱۲) تنه دی تر اوسه پوری ښځینه استاذان نلری.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### دولتي او خصوصي ښوونځی:

د زابل په ولایت کی د ښوونې او روزنی کیفیت دپخوا په پرتله ډیر ښه شوی دی چې دتیر په پرتله زده کړو ته چې دهر وګړي اساسي حق دی دوګړو دلاسی رسی سلنه ډیره شوې ده او دزابل ولسونه دیاد ولایت په مربوطاتو کی لومړنیو، منځنیو او ثانوی زده کړو ته لاس رسی لری چې په لاندی جدول کی تری یادونه شوی ده .

دزابل په ولایت کی دلومړنیو، منځنیو او لیسو شمیر

| د لومړنیو ښوونځیو شمیر | د منځنیو ښوونځیو شمیر | د لیسو شمیر |
|---|---|---|
| ۱۱۲ | ۳۲ | ۳۳ |

همدارنګه دزابل ولایت په مربوطاتو کی دپوهنې په ډګر کی په لاندی جدول کی ذکر شوی ښوونیز مرکزونه او دینی مدرسی هم شتون لری

| دلیک لوست دولتی او غیردولتی کورسونه | چټکو زده کړو ښوونتونونه | کلیوال مرکزونه | دشپې لیسی | دښوونکی دروزنی ښوونتونونه | دارالعلوم | دارالحفاظ | مدرسی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۵ | ۲۵ | ۱ | ۳ | ۱ | ۲ | ۵ |

د پوهنې ریاست اړوند له (۱۳۹۴ه ش) کال څخه تر (۱۳۹۸ه ش) کال پوری نوي جذب شوي زده کوونکي

| شماره | کال | هلکان | نجوني | د نویو جذب شویو زده کوونکو مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| 1 | ۱۳۹۴ | ۶۳۴۱ | ۲۴۱۲ | ۸۷۵۳ |
| 2 | ۱۳۹۵ | ۴۷۷۳ | ۱۶۰۹ | ۶۳۸۲ |
| 3 | ۱۳۹۶ | ۵۲۲۱ | ۱۸۷۹ | ۷۱۰۰ |
| 4 | ۱۳۹۷ | ۱۴۰۲۹ | ۴۳۱۵ | ۱۸۳۴۴ |
| 5 | ۱۳۹۸ | ۹۷۹۴ | ۲۲۵۰ | ۱۲۰۴۴ |

د پوهنې ریاست اړوند د (۱۳۹۴ه ش) څخه تر (۱۳۹۸ ه ش) کال پوري د دوولسم ټولګې څخه د فارغینو جدول

| شماره | فراغت کال | هلکان | نجوني | د فارغ شویو زده کوونکو مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| 1 | ۱۳۹۴ | ۲۹۲ | ۳۲ | ۴۲۴ |
| 2 | ۱۳۹۵ | ۳۹۴ | ۲۶ | ۴۲۰ |
| 3 | ۱۳۹۶ | ۴۵۳ | ۶۰ | ۵۱۳ |
| 4 | ۱۳۹۷ | ۵۸۸ | ۷۰ | ۶۵۹ |
| 5 | ۱۳۹۸ | ۷۰۴ | ۷۱ | ۷۷۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د خصوصي ښوونځیو د زده کوونکو او ښوونکو په اړه معلومات:

| شماره | د ښوونځي نوم | د ښوونځي ډول | د زده کوونکو شمیر | | د ښوونکو شمیر | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه |
| ۱ | د ترنک خصوصي ښوونځی | ذکور | ۳۷۲ | ۵۴ | ۲۰ | ۰ |
| ۲ | د نازو انا خصوصي ښوونځی | ذکور | ۸۶ | ۲۳ | ۸ | ۰ |
| ۳ | د زابل شاجوی خصوصي ښوونځی | ذکور | ۱۴۵ | ۰ | ۶ | ۰ |
| ۴ | نیاز گل وزیری خصوصی ښوونځی | ذکور | ۶۳ | ۱۶ | ۵ | ۰ |

### دولتی او خصوصی پوهنتونه:

د زابل ولایت دولتي د لوړو زده کړو موسسه چې د میرویس خان نیکه د لوړو زده کړو موسسی په نوم یادیږی په ۱۳۹۵ کال کې په فعالیت شروع کړی د لوړو زده کړو په دغه موسسه کې تر اوسه یوازی د تعلیم او تربیی پوهنځی شته او نوری فعاله پوهنځی نه لری دغه موسسه تر اوسه خپل د زده کړی تعمیر نه لری او د بلی اداری په ودانی کې خپل فعالیت کوی. په زابل کې تر اوسه کوم خصوصی پوهنتون ندی فعاله شوی تر څو ښوونځیو نوی فارغ کیدونکی زده کووونکی پکی لوړی زده کړی وکړی.

### د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو د موسسی د معلوماتو جدول:

| شماره | دپوهنځی نوم | دمحصلینون شمیر | | داستادانو تعداد | | د استادانو د زده کړی کچه | | | د فارغینو شمیر | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | نارینه | ښځینه | نارینه | نارینه | لیسانس | ماستر | دوکتورا | نارینه | ښځینه |
| ۱ | تعلیم او تربیه | 370 | 11 | 20 | 0 | 17 | 3 | 0 | 0 | 0 |

### د جنسیت په تفکیک د زده کړیالانو سلنه:



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رسنیو فعالیتونه:

رسنۍ په هیواد کې د ولسونو او دولت ترمینځ دیو پل حیثیت لری دولس غړ تر دولت او حکومت او دحکومت پیغام تر ولسه رسوی په تیرو دوه لسیزو کی رسنیو دولسواکی او ډیموکراسی په پلی کولو کی رغنده رول لوبولی، دیادونی وړ ده چې دزابل په مربوطاتو کی ۷ غړیزی او انځوریزی رسنۍ شتون لری چې ټولی رسنی د FM په مختلفو فریکوینس یو سره خپرونی کوی چې په لاندی جدول کی درسنیو دمعلومات به اړه یادونه شوی. دیادونی وړ ده چې دمګړی په زابل کی دملی رادیو تلویزیون په ګډون ۷ راډیوګانی دخپرونی په برخه کی فعالیت کوی.

| شمیره | د رسنی نوم | موقعیت | حالت |
|---|---|---|---|
| ۱ | ملی رادیو تلویزیون | مرکز قلات | فعال |
| ۲ | تعلیم الاسلام رادیو | مرکز قلات | فعال |
| ۳ | قلات غږ راډیو | مرکز قلات | فعال |
| ۴ | ښکلا رادیو | مرکز قلات | فعال |
| ۵ | ترنک راډیو | مرکز قلات | فعال |
| ۶ | سور غر رادیو | شاه جوی ولسوالی | فعال |
| ۷ | شیخ متی رادیو | مرکز قلات | فعال |

## سپورټ او بدنی روزنه

| شمېره | د فدراسیون نوم | د فعاله کلبونو شمېر | په منځني ډول د ورزشکارانو ټولټال شمېر |
|---|---|---|---|
| 1 | فوټبال | 40 | 640 |
| 2 | واليبال | 20 | 240 |
| 3 | سیمه ییز غیږ/کشتي یا بل کورش | 12 | 600 |
| 4 | کونګ فو | 1 | 60 |
| 5 | کاراته | 3 | 150 |
| 6 | ووشو | 7 | 700 |
| 7 | اندام روزنه | 2 | 400 |
| 8 | کیک بوکسنګ | 3 | 350 |
| 9 | جمناستیک | 1 | 30 |
| 10 | څغاسته | 1 | 20 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 11 | بایسکل چلول | 1 | 70 | د زابل ولایت |
| 12 | کرکټ | 91 | 1365 | |
| 13 | فول رزم | 1 | 60 | |

دورزش امریت سره د سپورت او المپیک دعمومی کمیټی داصولو مطابق مختلف ورزشی ریشتی ثبت او راجستر شوی دی چی عملاٌ دزابل ولایت په مربوطاتو کی دورزش په برخه کی کړنی ترسره کوی چی په لاندی جدولونو کی یی معلومات ثبت شوی

## پوهني سکتور انکشافی بودجه، عواید او پانګونی د فرصتونو تحلیل:

### پوهنې سکتور د مخکینی کلنی پرمختیایي بودیجي لګښت(لړترلړه د تیرو دریو ) کلونو لپاره

| ګڼه | سکتور | اداره | کال | راغلي انکشافی بودجه | مصرف شوي انکشافی بودجه | د مصرف شوي انکشافی بودجي سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پوهنې سکتور | د پوهنی ریاست | 1395 | 9288363 | 9018559 | 97.09524703% |
| | | | 1396 | 18145528 | 16401585 | 90.38913059% |
| | | | 1397 | 22665279 | 22663395 | 99.99168773% |
| | | | 1398 | 7318555 | 6915960 | 94.49898238% |
| | | سپورټ آمریت | 1396 | 34000000 | 0 | 0% |
| | | چاپیریال ساتنی ریاست | 1397 | 30000 | 0 | 0% |
| | | تولټال | | 91447725 | 54999499 | |

د پو هنې سکتور  اړوند پورته ذکر شویو ادارو ته په تیرو څو کلونو کې دغه ذکر شوی انکشافی بودجه راغلې وه چې د هغو د جملې څخه پوهنی ریاست خپله راغلی انکشافی بودجه مصرف کړی ده او د سپورټ آمریت او د چاپیریال ساتنی ریاست نه دی توندلی چې خپله ورکړل شوی بودجه په مصرف ورسوی.

### د پو هنې سکتور  د  تیرو څو کلونو عواید

| ګڼه | سکتور | اداره | کال | را ټول شوی عواید | دعوایدو سرچینې |
|---|---|---|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پوهنه | د پوهنی ریاست | 1396 | 92286 | دتصديق نامو فيس |
| | | | 1397 | 1760730 | دخصوصی ښوونځيو دجوازونو ،تصديق نامو دبيا راگرځيدو فيس |
| | | | 1398 | 677771 | دخصوصی ښوونځيو دجوازونو ،تصديق نامو دبيا راگرځيدو فيس |
| | | د سپورټ آمريت | 1396 | 5000 | د کلبونو جوازونه |
| | | | 1397 | 6000 | د کلبونو جوازونه |
| | | | 1398 | 7000 | د کلبونو جوازونه |
| | | چاپيريال ساتنی رياست | 1398 | 8000 | ساختمانی او لوجيستکی شرکتونو ته جوازونه ورکول |
| | | ټولټال راټول شوی عواید | | 2556787 | |

## د پوهنی سکتور په برخه کې د پانگونی د فرصتونو تحليل:

### 1 - د پوهنی په برخه کې د خصوصی سکتور پانگونه:

په زابل ولايت کې د پوهنی په برخه تر اوسه په هغه اندازه چې لازمه ده او ورته اړتيا ده د خصوصی سکتور لخوا د پوهنی په برخه کې لازمه پانگونه نده شوی او نه هم ورته پاملرنه شوی ده ولی بيا هم اوس فعلآ دوه خصوصی ابتدايئه او يو مځنې ښوونځي په قلات ښار کې فعاليت کوی او ددی تر څنگ يو ابتدائيه ښوونځی په شاجوی ولسوالی کې فعاليت کوی دغه ښوونځي چې اوس نوي فعاله شوی دی د ظرفيت، کيفيت او کميت له اړخه پوره ندی سمبال تر څنگ يو څو د گوتو په شمار د په تيټ کيفيت او ظرفيت سره د انگليسی ژبی او کمپيوټر مرکزونه د ساينسی مضامينو سنټرونه شته او ددی رت څنک يو د نيمه عالی زده کړو خصوصی انستيتوت فعاله دی چی هغه هم د ظرفيت، کيفيت او امکاناتو له اړخه په ټيټه سطحه کې قرار لری او ددی ترڅنگ نوری ستونزی هم لری چې د زده کړی ددی مرکزنو د ظرفيت لوړالی کيفيت د ښووالی لپاره بايد ددغه ښوونيزو مرکزونو مالکان نور ډير کار وکړی لکه مسلکی او تجربه لرونکي استادان استخدام کړی د هغوی د ظرفيت لوړ کړی همدارنگه د زده کوونکې لپاره مناسب درسي چاپيريال برابرکړی او زده کوونکو ته ټول درسي امکانات اماده کړی تر څو خلک و هڅول شی چې خپل اولادونه ښخصی ښوونيزو مرکزونو ته د زده کړی او تعليم لپاره وليږی متاسفانه چې ځينی ددغو ښوونيزو مرکزونو څخه اوس د مالی ستونزو او ننگونو سره مخامخ دی او د هغو د تړلکيدو امکان ترډير شته نو حکومت او نور سوداگر بايد د هغوی مرستی ته را ودانگی او دهغوی سره په مالي، تخنيکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نورو برخو کې مرسته وکړي تر څو دغه ښوونيز مرکزونه او سنټرونه په خپلو پښو ودريږی او پرمختګ وکړی او نور پانګوال ودی ته وهڅيږی تر څو په دی برخه کې پانګونه وکړی.

### 2 - د پوهنې په برخه کې د سرمايه ګزاری فرصتونه:

زابل يو د افغانستان د وروسته پاتی او جنګ ځپليو ولاياتو د جملې څخه شميرل کيږی او ددې ولايت خلکو ته په هغه اندازه چې پکار ده په يوه برخه کې هم کار ندی شوی لکه د کرهنې، روغتيا، اقتصادی پراختيا او پوهنی په برخه کې، او به يادو برخو کې د دولتی سکتور تر څنګ د خصوصی سکتور لپاره د پانګونی ښه فرصتونه شتون لری د پوهنې په برخه کې ډيره زياته ښه د پانګونی فرصت شته چې بايد ورڅخه استفاده وشی ځکه دلته په هغه اندازه چې پکار ده د دولت لخوا د پوهنی برخی ته لازمه پاملرنه نده شوی لکه په ښوونځيو کې د استادانو او زده کوونکو د ظرفيت ټيټوالی او د پوره امکاناتو تجهيزاتو نشتون او ځينی نوری ننګونی او دی ته په کتو سره ډير خلګ اوس دی ته ليواله دی تر څو دلته به معيار باندی برابر ښوونځي او د زده کړی مرکزونه فعال شی لکه خصوصی ابتدائيه، منځنې ښوونځي، د کانکور د امادګې مرکزونه، ساينسی مضامينو، دينی مضامينو سنټرونه، د انګليسی ژبی او کمپيوټر د زده کړی ښوونيز سټندرډ سنټروونه شخصی نيمه عالی او عالی د لوړو زده کړو موسسی او داسی نور. که په پورته ذکر شويو برخو کې د خصوصی سکتور لخوا پانګونه وشی او ورته توجو وشی نو دلته زيات شمير خلک سته چې غواړی اودلادونه يی به لوړ کيمفيت سره زده کړی وکړی او د هيواد په راتلوونکی خپل رغنده رول ولوبوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعامي روغتيا سکتور

### د سکتور په هکله لنډ مالومات

دزابل دعامی روغتیا ریاست چی دافغانستان اسلامی جهوری دولت داتو ستکورونو له جملی څخه یو مهم او ارزښت لرونکی ستکور دی ، په نوموړی سکتور کی یواځی او یواځی د عامی روغتیا ریاست شتون لری اونوری اداری په یاد سکتورکی شتون نلری یواځینی واحد سکتور دی چی په خپله کاری برخه کی روغتیایی خدمات وړاندی کوی چی د زابل د روغتیا ریاست چی له ډیرو کلنو څخه راهیسی د زابل د اوسیدونکو لپاره روغتیایی خدمات وړاندی کوی چی په نمونه ډول د لاندی فعالیتونو نومونه اخیستل کیږي.

- دتغذي حالت ښه کول
- اولیه روغتیایی خدمات په عادلانه او مساوی ډول خلکوته رسول
- دمور او ماشوم دمړینی کچه کمول
-دپولیو ویروس له منځه وړل
- دمعافیت په برخه کی په وړیا ډول د واکسین خدمات عرضه کول
- د معلول کسانو سره مرسته کول
- محبوسینوته اولیه خدمات عرضه کول

## روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی

### بنستیزو روغتیایي مرکزونو(BHC) ته د ښځو او نرانو لاسرسی

په زابل ولایت کی ټول (58) روغتیایی مرکزونه شتون لری چی د هغه له جملی 9 بنسټیز روغتیایی مرکزونه،7 جامع روغتیایی مرکزونه،35 فرعی روغتیایی مرکزونه، 4 گرځنده روغتیایی ټیمونه، 1 ولایتی روغتون ، 1 OPTC او یو هم HCS دی. په ټول ولایت کی تقریباً (۷۰٪ ) خلک لومړنیو روغتیایی خدمتونو ته لاس رسی لری او یواځي ( ٪ ۳۰) وگړی روغتیایی خدماتو ته لاس رسی نلری اویا هم د روغتیایی مرکزونو څخه په لری واټن کی قرار لری اوجغرافیوی موانع لری د تیر کال په جریان کې په زابل ولایت کې د مسلکی قابلو په مرسته په روغتیایی مرکزنو کې (۱۰۸۸۷) زیږونونه ترسره شوی دي همدارنگه (۱۷۴۴۶) میندو د زیږون څخه مخکی خدمتونو ته لاس رسی پیداکړی دي د عامی روغتیا ریاست د معلوماتو په اساس په تیر کال کې د میندو د مړنی کڅه صفر او د ماشومانو د مړینی کڅه ۰،۴۶ فیصده وه.

### ۱- د ولایت په سطحه بنستیز روغتیایی مرکزونه(BHCs)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولایت په سطحه دبنسټیزو روغتیایی مرکزونو شمیر په لاندی جدول کی خلاصه شوی ده.

| ګڼ | د روغتیایی مرکز نوم | تر پوښښ لاندی نفوس | تمویل کننده | تطبیق کننده | کلی | ولسوالی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | جلدک | 6000 | WB | SDO | جلدک | ترنک جلدک |
| 2 | نوبهار | 9458 | | SDO | نوبهار | نوبهار |
| 3 | باغ | 8000 | WB | SDO | باغ | ارغنداب |
| 4 | سایګز | 8000 | WB | SDO | سایګز | ارغنداب |
| 5 | څنځیر | 10000 | WB | SDO | څنځیر | شملزايي |
| 6 | داېچوپان | 21292 | WB | SDO | داېچوپان | داېچوپان |
| 7 | تکیر | 1829 | WB | SDO | تکیر | میزان |
| 8 | خاکیران | 12258 | WB | SDO | خاکیران | خاک افغان |
| 9 | سولان | 9000 | WB | SDO | سولان | خاک افغان |

## ۲- د ولایت په سطحه جامع روغتیایي مرکزونه(CHC)

د زابل ولایت په سطحه ټول اووه (۷) بابه جامع روغتیایي مرکزونه فعال دی چې معلومات یی په لاندی جدول کې ترتیب شویدی.

| ګڼ | د روغتیایي مرکز نوم | تر پوښښ لاندی نفوس | ملاتړ کوونکی | تطبیق کوونکی | کلی | ولسوالی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | شهرصفا | 7000 | WB | SDO | شهرصفا | ترنک جلدک |
| 2 | ارغنداب | 10373 | WB | SDO | ارغنداب | ارغنداب |
| 3 | شملزايي | 12000 | WB | SDO | شملزايي | شملزايي |
| 4 | اتغر | 7000 | WB | SDO | اتغر | اتغر |
| 5 | میزان | 7000 | WB | SDO | میزان | میزان |
| 6 | شینکي | 8200 | WB | SDO | شینکي | شینکي |
| 7 | سیوری | 8200 | WB | SDO | سیوری | سیوری |

## ۳- فرعی روعتیایی مرکزونه(SC):

د زابل ولایت په سطحه د فرعی روعتیایی مرکزونو شمیر په لاندی جدول کې ترتیب شوی ده.

| ګڼ | د روغتیایی مرکز نوم | تر پوښښ لاندی نفوس | تمویل کوونکی | تطبیق کوونکی | کلی | ولسوالی |
|---|---|---|---|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| قلات | اومکی | SDO | WB | 2000 | اومکی | 1 |
| قلات | نوخیز | ARCS | QRCS | 4500 | نوخیز | 2 |
| قلات | باکورزایی | SDO | WB | 4000 | باکورزایی | 3 |
| قلات | سپینه غبرګه | SDO | WB | 3000 | سپینه غبرګه | 4 |
| قلات | شیخ متی | SDO | WB | 3200 | شیخ متی | 5 |
| قلات | سینک | SDO | WB | 5000 | سینک | 6 |
| قلات | قلات | MOPH | UNICEF | 23468 | قلات | 7 |
| قلات | نورک | SDO | WB | 11709 | نورک | 8 |
| قلات | زندان | SDO | WB | 2000 | زندان | 9 |
| قلات | جارو الله | SDO | ICRC | 6100 | جارو الله | 10 |
| قلات | ARCs | SDO | WB | 25109 | ARCs | 11 |
| شاجوی | DH | SDO | WB | 25000 | DH | 12 |
| شاجوی | چینو | SDO | WB | 7000 | چینو | 13 |
| شاجوی | شوبار | SDO | WB | 7000 | شوبار | 14 |
| شاجوی | برج | SDO | WB | 4000 | برج | 15 |
| شاجوی | زرګران | WHO | WHO | 8000 | زرګران | 16 |
| شاجوی | خاکه | SDO | QRCS | 9000 | خاکه | 17 |
| شاجوی | باغتو | SDO | WB | 3000 | باغتو | 18 |
| ترنک جلدک | شوخک | SDO | WB | 2000 | شوخک | 19 |
| ترنک جلدک | غشی رباط | SDO | WB | 2571 | غشی رباط | 20 |
| نوبهار | لوړکی | SDO | WB | 4729 | لوړکی | 21 |
| ارغنداب | سردره | SDO | WB | 8000 | سردره | 22 |
| شملزایی | لوی کلی | SDO | WB | 5016 | لوی کلی | 23 |
| دایچوپان | مره | SDO | WB | 10000 | مره | 24 |
| دایچوپان | چلاکور | SDO | WB | 10000 | چلاکور | 25 |
| میزان | بایزی | SDO | WB | 7000 | بایزی | 26 |
| میزان | تاخوم | ARCS | QRCS | | تاخوم | 27 |
| میزان | ارغسو | SDO | WB | 1900 | ارغسو | 28 |
| میزان | پیتاو | SDO | WB | 1828 | پیتاو | 29 |
| میزان | شینکان | SDO | WB | 1829 | شینکان | 30 |
| شینکی | بولان | SDO | WB | 2000 | بولان | 31 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شینکی | روغنی | SDO | WB | 3154 | روغنی | 32 |
| شینکی | دیوالک | SDO | WB | 2880 | دیوالک | 33 |
| خاک افغان | ځنګلی | ARCS | QRCS | | ځنګلی | 34 |
| خاک افغان | کاژک | SDO | WB | 4000 | کاژک | 35 |

### 4- ګرځنده روغتیایي ټیمونه (MHT):

| ولسوالی | کلی | تطبیق کننده | تمویل کننده | تر پوښښ لاندی نفوس | د روغتیایي مرکز نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| قلات | قلات مرکز | WHO | WHO | 8000 | قلات | 1 |
| شاجوی | سلیمانزی | SDO | World bank | 4456 | سلیمانزی | 2 |
| شاجوی | جعفر | SDO | WB | 4000 | جعفر | 3 |
| شاجوی | یخ آب | MOPH | UNICEF | 29893 | یخ آب | 4 |

### ۲- د روغتیایي استیاوو لنډیز:

په زابل ولایت کی تولټال 58 روغتیایي مرکزونه شتون لری چی بشپړ معلومات یې په مخکینی جدول کی وراندی شول ، او لنډ معلومات یې په لاندی ډول دی.

| د زابل ولایت اړوند روغتیایی تسهیلاتو لنډیز | | |
|---|---|---|
| شمیر | د روغتیایي اسانتیا ډول | ګڼه |
| 1 | ولایتی روغتون | 1 |
| 1 | د ولسوالی روغتون (شاجوی) | 2 |
| 8 | بشپړ روغتیایی مرکزونه | 3 |
| 15 | اساسی روغتیایی مرکزونه | 4 |
| 27 | فرعی روغتیایی مرکزونه | 5 |
| 5 | ګرځنده روغتیایی ګروپونه | 6 |
| 1 | نور روغتیایی مرکزونه | 7 |
| 58 | ټوله روغتیایی مرکزونه | |
| 358 | د SDO انجو لخوا روغتیایي پوستی | |
| 0 | روغتیایی پوستي د ولایتی روغتون | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 3-د روغتیا د سکتور په برخه خصوصی پانګونه:

په زابل ولایت د روغتیا په برخه کې په لړه اندازه خصوصی پانګونه شوی ده چې د نورو لویو ښارونو په نسبت کمه پانګونه ده، په یاد ولایت کې (۹۴) خصوصی درملتونونه، (۵) د دوا عمده پلورنځي، (۳) شخصی سراپا کلینیکونه، (۱۰) طبی لابراتوارونه فعالیت کوی او یو د طبی علومو انستیتوت فعال دی، ددی ترڅنګ د روغتیا په برخه کې (۳) نادولتی مرستندویه موسسی فعالیت کوی او خلکو ته خدمات وړاندی کوی.

**په زابل ولایت کې شته فعال شخصی روغتونونه:**

په زابل ولایت کې دوه شخصی روغتونونه فعالیت کوی چې معلومات په لاندی جدول کې وړاندی کیږی.

| شمېره | دخصوصی روغتون نوم | لمړنی پانګونه په افغانیو | متخصص داکتران | | عمومی داکتران | | تعداد نرس | | د قابلې شمېر | د بستروني شمېر | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | | | |
| ۱ | اعتماد روغتون | | 2 | 0 | 0 | 1 | 2 | 2 | 1 | 20 | |
| ۲ | مرغوال | | 1 | 0 | 1 | 0 | 2 | 1 | 1 | 20 | |

## د عامې روغتیا سکتور د تیرو کلونو عواید ، انکشافي بودجه او د پانګونې د فرصتونو تحلیل:

### 1 - د تیرو کلونو انکشافي بودجه:

| ګڼه | سکتور | اداره | کال | راغلی بودجه | مصرف شوی بودجه | د مصرف فیصدی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د عامې روغتیا سکتور | د عامې روغتیا ریاست | 1396 | 22006939 | 22006939 | **100%** |
| | | | 1397 | 6679750 | 6679750 | 100% |
| | | | 1398 | 0 | 0 | 0 |
| ټولټال | | | | 28686689 | 28686689 | |

د عامې روغتیا ریاست د ګزارش په اساس دغه سکتور په تیرو دوه کلونو کې (28686689) میلیونه افغانی بودجه مصرف کړی ده

### 2 - د عامې روغتیا سکتور د تیرو کلونو عواید:

| ګڼه | سکتور | اداره | کال | راټول شوی عواید | د عوایدو سرچینې |
|---|---|---|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عامه روغتیا | د عامې روغتیا ریاست | 1396 | 0 | |
| | | | 1397 | 0 | |
| | | | 1398 | 4183075 | د مریضانو څخه د فیس اخیستل |

## 3 - د روغتیا سکتور په برخه کې د پانګونې د فرصتونو تحلیل:

### په زابل ولایت کې د روغتیا په برخه کې شته فرصتونه او ننګونې:

یو د مهمو او اساسي ضرورتونو په نن عصر کې د انسان لپاره روغتیا او د روغتیا امکانات او اسانتیاوې دي چې هر سړی د نړۍ په هر ګوټ کې روغتیا او د روغتیا اړوند امکاناتو او اسانتیاوو ته ضرورت لري چې باید ورته اماده شي نو په دې بنآ په افغانستان کې بلخصوص په زابل کې دغه اړتیا او ضرورت اوس تر هر وخت ډیر زیات محسوسیږي او ورته زیات ضرورت دی چې باید د نننی عصر او امکاناتو او غوښتونو مطابق روغتیایي امکانات خلکو ته د حکومت او همدارنګه د خصوصي سکتور لخوا برابر شي او په دې برخه کې نوره ډیره پانګونه وشي لا زیات کار وشي ځکه په زابل ولایت کې د روغتیا په برخه لکه څرنګه چې لازمه ده نه د حکومت لخوا کار شوی او نه هم خصوصي سکتور په دې برخه کې پانګونه کړې ده بلخصوص د روغتیا د کیفیت د ښووالي او د ددې برخې د ظرفیت د لوړیدو په برخه کې تر ټو خلک حد اقل لومړنیو روغتیایي امکاناتو ته لاس رسی ولري.

په زابل ولایت کې د روغتیا په برخه کې د خصوصي سکتور لخوا تر اوسه په هغه اندازه چې ورته اړتیا ده او د خلګو غوښتنه ده پانګونه نده شوې په دې برخه کې په یاد ولایت کې ښه فرصتونه شته چې باید ورڅخه ګټه واخیستل شي تر څو له یوې خوا د خلګو هغه اساسي ضرورتونه او غوښتنې چې د روغتیا په برخه کې یې لري رفعه شي او همدارنګه سوداګر خپله پانګه دلته په مصرف ورسوي او ګټه یې ترلاسه کړي په زابل کې د روغتیا په برخه کې په دغو لاندې برخو کې د پانګونې فرصتونه شته او ورته اړتیا ده چې ورباندې پانګونه وشي.

لکه: د هیواد او سیمې په سطحه د معیاري او عصري روغتونواو کلینیکونو جوړول او فعاله کول، د عصري او د نني عصر د غوښتونو مطابق د تشخصیه لابراتوارونو جوړول او په هغو کې د مسلکي اشخاصو په دنده ګمارل، د روغتیایي انستیتونو جوړول او په دې برخه کې د نارینه او ښځینه روغتیا پالانو، نرسانو، قابلو او فارمسیستاتو روزل په دنده ددغه مسلکی روزل شویو کسانو ګمارل او د هغوی د ظرفیت او وړتیا څخه د روغتیا په سکتور کې ګټه اخیستل، داچې په زابل کې د خصوصي سکتور خدمتونه ترډیره حده یوازې تر مرکز قلات پورې محدود دي نو باید دغه خدمتونه ټولو ولسوالیو او د ولایت لیرې پرتو سیمو ته غځول شي په لیرې پرتو سسیمو کې هم روغتیایي خدمتونه خلګو ته وړاندې شي ددې ترڅنګ د هغو درملو کیفیت لوړ شي کوم چې دې ولایت ته واردیږي ځکه خلګ د کیفیت درومل غواړي چې متاسفانه دلته نه راوړل کیږي او د ټیټ کیفیت لرونکې درمل د کیفیت لرونکو درملو په نامه خلګو ته ورکول کیږي او ددې سره په ځنګه کې دلته یو بل ښه فرصت او د پانګونې چانس شته چې باید د زابل پانګوال ورڅخه ګټه واخلي هغه دلته د هغو درملو د جوړولو لپاره د فابریکو پرانیستل دي چې امکان لري دلته جوړ شي او خام مواد ورته اماده کیدلی شي او هم ورته اړتیا ډیره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زیربنا او طبعی سرچینو سکتور:

## د سکتور په اړه لنډ معلومات

د زيربنا او طبعي سرچينو سکتور د هېواد او منطقې په آبادي او بيا رغونه کې رغنده نقش لوبوي ، په دې سکتور کې دسړکونو ساتنې او څارنې رياست، دترانسپورت مديريت، دکانونو او پطروليم آمريت، د اوبو دتنظيم رياست، دبرښنا رياست، دمخابراتو رياست، د ښارجوړونې او ځمکو رياست او دښاروالی رياست شامل دی چې د هېواد د لويو لارو ډيزاين او جوړول ، په لويو لارو کې تونلونه ، لوړ او لوی پلونه جوړول يې له اساسي دندو څخه شميرل کيږي او همدارنګه د ملي اقتصاد د ودې ، کارموندنې ، بې وزلي د کمښت او خلکو د سوکالی په موخه له طبعي سرچينو څخه مناسبه ګټه اخيستنه يې هم له دندو څخه شميرل کيږي.

### سړکونه / لارې:

د ټرانسپورټي زيربناګانو د حفظ او مراقبت له رياست څخه ترلاسه شوي ار قام هغه فعاليتونه ښيي چې د ښار مرکز او ولسواليو ترمنځ د مواصلاتي لارو په برخه کې ترسره شوي دي چې خلکو او دولت ته يې د ټرانسپورټي خدمتونو په برخه کې ګڼ شمير آسانتياوې برابرې کړيدي.

د زابل په ولايت کې د سړکونو د حفظ او مراقبت لپاره د فوايد عامې په چوکاټ کې درې ډوله ميکانيزمونه شتون لري چې په دې کې د لويو لارو ساتنه او څارنه ، د اضطراري او ستراتيژيکو لارو ساتنه او د ولايتي سړکونو ساتنه او څارنه شاملې دي په دې ولايت کې « ۷۰ » سلنه سړکونه په منظم ډول تر ساتنې او څارنې لاندې دي ، خو « ۳۰ » سلنه يې د ناامنې او لريوالي له کبله د ساتنې او څارنې څخه بې برخې پاتې دي .د دې ولايت « ۹۰ » سلنه سړکونه د ولسواليو او ښارونو ترمنځ نښتې دي د زابل ولايت د ښاري او کليوالي سړکونو مجموعه د کيلو متر په حساب په لاندې ډول ښودل کيږي .

| شمیره | سړک | د سړک حالت | اندازه په کلومتر |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کابل کندهار لویه لار | اسفالت | ۱۷۵ کیلومتر |
| ۲ | قلات تر میزانی | اسفالت | ۴۲ کیلومتر |
| ۳ | قلات تر شینکی | اسفالت | ۶۳ کیلومتر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| مجموعه | ۲۸۰ کيلومتره |

### د خاكي سړكونو مجموعه د كيلومتري په حساب

| شميره | سړک | د سړک حالت | اندازه په کيلومتر |
|---|---|---|---|
| ۱ | شملزايي تربندره | خاكي | ۶۵ کيلومتر |
| ۲ | اتغر تر شملزايی | خاكي | ۱۰۰ کيلومتر |
| ۳ | معروف تر اتغر | خاكي | ۴۰ کيلومتر |
| ۴ | ارغنداب تر ميزانه | خاكي | ۴۸ کيلومتر |
| ۵ | دايچوپان تر خاک افغان | خاكي | ۷۰ کيلومتر |
| ۶ | ارغنداب تر دايجوپان | خاكي | ۱۰۰ کيلومتر |
| ۷ | شينکی تر شملزايی | خاكي | ۴۸ کيلومتر |
| ۸ | شاجوی تر ارغنداب | خاكي | ۳۵ کيلومتر |
| مجموعه | | | ۴۲۳ کيلومتر |

### هوايي ډګرونه :

په زابل ولايت کې يو هوايي ډګر شتون لري چې تر اوسه په مکمل ډول ندی رغول شوی خو بيا هم د نظامي پروازونو لپاره آماده دي او ترينه ګټه اخيستل کيږي دايساف ځواکونو تر ميشتيدا يعنی (۲۰۱۴)کال پوری په زابل کې دری موقتي هوايي ميدانونه وه ،چې يويې دمرکز قلات څخه جنوب لوری ته په (۲۵)کيلومتری کې دسيوری په سيمه کی وو ،دوهم يی دمرکز قلات ښار څخه ختيځ لوری ته په يوه څنډه کی دښار څخه په (۵)کيلومتری کی موقعيت درلودی او دريم يی اوسنی رسمی ميدان چی دقلات ښار څخه شمال اړخ ته دښاری احاطی



(c) ketabton.com: The Digital Library

سره وصل د (۲۰۵)پولی لوا بغل ته پروت دی اوترډیر ه یی امنیت تامین دی او رسیدگی ورته تربل هرځای په ډاډه زړه او امنی فضا کی کیږی دزابل هوایی ډګر تقریبا ټولټال ۴۰۰ جریبه ځمکه کی جوړ شوی دی چی په هغه کی رنوی د ۲ کیلومتره په اوږردوالی ده او آپرون ،ټکسوی وجود لری چی رنوی ،آپرون ،اوټکسوی جغل اندازی شوی او یوازی قیر ته اړتیا لری، دزابل هوایی ډګر دري پوړیزه ودانی لری چی تراوسه یی ابتدایی تسلیمی شوی ده اونهایی تسلیمی یی پاتی ده د یاد هوایی ډګر څلور سره خواوی فینس (سیمی خالدار)سره پوښل شوی دي.

**ترانسپورت:**

ترانسپورت او ترانزیت چې اصلا د انسانانو او موادو د انتقال لپاره رامنځته شوی د یوممملکت په سوکالتیا او آرمتیا کې مهم رول لري د افغانستان په ملي پرمختیایي تګلاره کې هم یوه منظم او مطلوب ترانسپورت ته رسیدل یو له هغه اهدافو څخه دي چې باید ترلاسه شي. داسې ترانسپورت چې په هغه کې انتقالات او تګ راتګ په ډاډمنه توګه ترسره شي . د ترانسپورت د عمومي مدیریت د معلوماتو له مخې په دې اداره کې د ځمکني ترانسپورت د تنظیم پخواني قانون شته او په مخکني کلونو کې د ترانسپورت پالیسي او مقررات ترتیب شوي دي خو اوس په مرکز کې مسلکي او په کار پوه اشخاص په دې مصروف دي چې د ځمکني ترانسپورت د تنظیم لپاره یو جامع قانون جوړ کړي، خو زابل ولایت په رسمي توګه ( ۳۷۷۶۴۸ ) او په حقیقي ډول ( ۸۰۰۰۰۰) نفوس لرونکی ولایتونو له جملې څخه شمیرل کیږي په مجموعي توګه د مرکز په شمول حتاً د لرې ولسوالیو خلک هم ځمکني ترانسپورت ته لاسرسی لری ، ځکه د پخوا په پرتله په اوسنیو وختونو کې د خلکو اقتصادي وضیعت لږ ښه شویدی نو ځکه اکثره خلګ په کورونو کې موټر لري.

دزابل په ولایت کې موجوده دمسافربری او باربری اتحادیی په لاندې ډول دي:

| شماره | د اتحادیې /شرکت نوم | د فعالیت ډول | آدرس | د خدماتو وړاندې کولوساحه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | احمد شاه ابدالي ترانسپورت | مسافر بري | قلات | کابل عمومي شهراه |
| ۲ | یوسفي ترانسپورت | مسافر بري | قلات | د زابل ولایت ولسوالی |
| ۳ | ذید کوهي ترانسپورت | مسافر بري | قلات | د زابل ولایت ولسوالی |
| ۴ | اعظمي رانسپورت | باربري | قلات | د زابل ولایت ولسوالی |
| ۵ | محمدي رانسپورت | باربري | قلات | کابل عمومي شهراه |

**د ولایت بریښنا:**

یواځې د زابل ولایت په مرکز قلات کې 20KV دیزلي بریښنا چې تقریبا ۴۵۰۰ کورنیو ته بریښنا رسیدلې ده .په زابل ولایت کې د بریښنا سب ستېشنونه شتون نلري او د غزني تر کندهار پوري د 220KV بریښنا رسولو چارې په چټکې سره رواني دي چې د زابل ولایت په مربوطاتو کې یې کار عملا جریان لري او هغه ولسوالیو ته چې د بریښنا په مسیر کې راځي د برق د توزیع لپاره دوه سب ستېښنونه د 20KV په ظرفیت سره جوړیږي چې ځمکې ورته مشخص شویدي، کله چې دغه وارداتي بریښنا د غزني له طرفه کندهار ته لاړشي نو په مسیر کې د شاجوی او شهرصفا په ولسوالیو کې ۲۰۰۰۰ نوي مشترکین اضافه کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مخابرات او معلوماتی تکنالوژی:

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژي سکتور په هېواد کې په ځانګړي توګه د ولایاتو په کچه یو له بنسټیزو ریاستونو څخه شمیرل کیږي چې د اقتصادي ودې په برخه کې حیاتي نقش لري ، د همدې اهمیت له کبله د سکتور د پرمختیا ستراتیژي په برخه کې د یوه ځانګړي سکتور په توګه په نظر کې نیول شوی ، یو عصري مخابراتي سیستم کولای شي له نوښتونو سره یو ځای د یوې قوي الکترونیکي اداري ګټورتوب او د دولتي سکتور روڼوالی همداشان ټولنیز خدمات خلګو ته وړاندی کړي . د زابل ولایت د مخابراتو ریاست اوس فعلا د ُپستی خدمتونو، د کمپیوټر د زده کړی ، انټرنیټي خدمتونو،ُپست بکس خدمتونه او پاسپورټ د توزیع په برخه کې خلګو ته خدمات وړاندی کوی چې ددغه خدماتو څخه یې (1573077)پنځلس لکه درو اویا زره وه اویا افغانی عواید د دولت حساب ته جمع کړی دی.

### دُ پست او ُپست بکس خدمتونه:

د مخابراتو ریاست په زابل ولایت کې د پیریدنکو لپاره ( ۱۰۰۰ ) شمارې پست بکسونه توزیع او اماده شویدي او یوه پسته خانه فعلا د مخابراتو په ریاست کې فعالیت لري

### د پاسپورت خدمتونه:

د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کلونو کې د مخابراتو ریاست ُپست مدیریت (۳۸٦۸) جلده پاسپورټونه خلګو ته توزیع کړی دی.

### د کمپیوټر د زده کړی مرکز:

د مخابراتو ریاست لخوا خلکو ته د کمپیوټر او انټرنیت د زده کړی مرکز فعاله شوی چې تر دی مهاله د یاد مرکز څخه (۲٦۴) زده کوونکی فارغ شویدی.

### د مخابراتی شبکو خدمتونه:

د زابل ولایت په مرکز قلات او اړونده نژدی ساحو پنځه واړه (سلام، روشن،اتصلات،ام تي ان، افغان بیسیم) مخابراتی شبکي فعاله دی او او خلګو ته خدمات وړاندی کوی، په مرکز قلات کې د افغان بیسیم 3G، روشن3G، ام تي ان 3G، سلام (افغان تیلی کام) 3G او اتصلات مخابراتی شبکه 2G انټرنیټی خدمتونه خلګو ته وړاندی کوی د قلات ۹۵ فیصده خلګ سیار تلیفونو او ٪۸۵ وګړی په ښار کې د انټرنیتی خدمتونو څخه ګټه اخلی او ورته لاس رسی لری. د زابل ولایت په نهو(۹) ولسوالیو کې ٪۷۵ وګړی مخابراتی او ٪۵۰ وګړی یی د 2G او 3G انټرنیټي خدمتونو ته لاس رسې لری چې په شاه جوی ولسوالی کې د افغان بیسیم 3G، د روشن، اتصلات، سلام او ام تي ان 2G انټرنیټی خدمتونه شته، په ترنک او جلدک ولسوالی کې د سلام 3G، اتصلات، روشن ، افغان بیسیم 2G خدمتونه، په شینکی ولسوالی کې د افغان بیسیم او سلام 2G خدمتونه او په سیوری، ارغنداب ، کاکړ خاک فغان، میزانه او شملزایی ولسوالیو کې د افغان بیسیم 2G انټر نیټي او مخابراتی خدمتونه فعاله دی یوازی په اټغر او دایچوپان ولسوالیو کې مخابراتی خدمتونه شتون نه لری، او په زابل ولایت په مربوطاتو کې د افغان تلیکام اړوند د نوری فایبر خدمتونه (۲۴) ساعته فعاله وی. په عمومې ډول د مرکز او ولسوالیو په تفکیک مخابراتي خدمتونو او انټرنیټ ته د خلکو لاسرسی په لاندې ډول سره ښودل شویدی

| په مرکز کې مخابراتي خدمتونو ته د خلکولاسرسي | په ولسوالیو کې مخابراتي خدمتونو ته د خلکولاسرسي | کې انټرنیټي خدمتونو ته د خلکولاسرسي | ولسوالیو کې انټرنیټي خدمتونو ته د خلکولاسرسي |
|---|---|---|---|
| 98% | 75% | 85% | 50% |

(c) ketabton.com: The Digital Library




## صنعتي فابريکي :

د توليدي صنعتي فابريکو شمير او د فعاليت ډول

د زابل ولايت په مربوطاتو کې ( ۲ ) صنعتي او توليدي فابريکې په مختلفو برخو کې فعاليتونه کوي چې يادې فابريکې او شرکتونه د زابل ولايت په مرکز قلات ښار کې فعاليتونه کوي. د يادوني وړده چې يادي فابريکې په لاندې جدول کې ذکرشوي فعاليتونه ترسره کوي .

| ګڼه | د فعاليت ډول |
|---|---|
| ۱ | د يخ د توليد فابريکه |
| ۲ | د پلاستيکي پيپونو د توليد فابريکه |
| ۳ | د چرګانو فارم |
| ۴ | د غواګانو فارم |
| ۵ | د لبنياتو د پروسس مرکز |

## کانونه / زيرمې

د کان کيندنې فعاليت د قانوني کولو ، په دوامداره توګه د کان کيندنې چارو نظارت او کنترول ، د منرالي سرچينو تثبيت او تشخيص او د محلي پانګونې لپاره د سهولت برابرولو په موخه د زابل ولايت د کانونو اداره د ۱۳۹۱ کال په اخر کې د کانونو او پټروليم وزارت تر چتر لاندې جوړه شوه چې د تشکيلاتي جوړښت له پلوه د کاډستر ، جيولوجست او اداري مديريتونو په درلودلو سره د اته کسانو پرسونل سره فعاليت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زابل ولایت کې په لاندې ډول سره کانونه شتون لري خو تر اوسه پدې برخه کې کومه پانګونه نده شوې .

| شمیره | د طبعي سرچینې نوم | د کان نوعیت | د کان آدرس |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکندلان مس | مس | میزانه ولسوالي |
| ۲ | د کفتر غار مس | مس | میزانه ولسوالي |
| ۳ | شیله سرخ مس | مس | ارغنداب ولسوالي |
| ۴ | اپتو شیله المونیم | آلومینیم | ارغنداب ولسوالي |
| ۵ | ظواهر معدني سرب و جست لودین | سرب وجست | ارغنداب ولسوالي |
| ٦ | ظواهر معدني مولیبدیم کندلان | مولیبدیم | میزانه ولسوالي |
| ۷ | ظواهر معدني تنګستن میدان آهو | تنګستن | دایچوپان ولسوالي |
| ۸ | ظواهر قلعي وبریلیم میدان آهو | قع یو بریلیم | دایچوپان ولسوالي |
| ۹ | ظواهر معدني طلا کندلان | طلا | میزانه ولسوالي |
| ۱۰ | ظواهر معدني طلا لیودین | طلا | ارغنداب ولسوالي |
| ۱۱ | ظواهر معدني سرپینتین لاجر | سرپنتین | میزانه ولسوالي |
| ۱۲ | آب های منرالي باراس | معدني اوبه | دایچوپان ولسوالي |
| ۱۳ | معدن ابرک کاریز | د ابرک ډبره | دایچوپان ولسوالي |
| ۱۴ | سنګ های قیمتي بیتامور | یاقوت و زمرد | دایچوپان ولسوالي |
| ۱۵ | ظواهر معدني کرومایت الکوز | کرومایت | شهر صفا ولسوالي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اوبو دتنظیم:**

دقلات سندیزی حوزې ریاست د اوبو د مدیریت دجبران او شخړو هوارول، د کانالونو د اوبو داستفاده کوونکو د انجمنو جوړول، د اوبو دسرچینو تثبیت او تقویه کول، دزراعتی ځمکو دتخریب په خاطر د استنادي دیوالونو جوړول او د چک بندونو جوړولو په برخه کې فعالیت کوی

دقلات سندیزی حوزی ریاست لخوا 28 کانالونه او 22 استنادی دیوالونه، په شاجوی او ارغنداب ولسوالی کې 2 د برق دبندونو سروې شوی دی اوهمدارنگه 17 استنادی دیوالونه جوړشوی دی.

## د زیربنا او طبعی سرچینو د سکتور انکشافي بودجه،عواید او په دغه سکتور کې د پانګونی د فرصتونو تحلیل:

### ۱ – د تیرو کلونو انکشافي بودجه مصرف:

یاد سکتور د تیرو کلونو د بودجې په هکله هیڅ معلومات ندی ورکړی.

### 2 - د زیربنا سکتور د تیرو کلونو عواید:

| ګڼه | سکتور | اداره | کال | راټول شوی عواید | د عوایدو سرچینی |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ترانسپورت مدیریت | 1398 | ۹۴۲۴۰۶۴ | د قراردادنو، جریمو او بابری موټرونه |
| | | د مخابراتو او معلوماتی تکنالوژی ریاست | 1396 | ۲۸۹۸۰۲ | دپُستی خدماتو، پُست بکس او د کمپیوټر د زده کړی سنټر |
| | | | 1397 | ۷۹۷۲۳۲ | دپُستی خدماتو، پُست بکس، د پاسپورټ او د کمپیوټر د زده کړی سنټر |
| | | | 1398 | ۴۸۶۰۴۳ | دپُستی خدماتو، پُست بکس، د پاسپورټ او د کمپیوټر د زده کړی سنټر |
| دسکتور ټولټال عواید | | | | ۱۰۹۹۷۱۴۱ | |

## دزیربنا سکتور د اقتصادي او ټولنیزي پراختیای د موجوده سرچینو او پوتنشیل تحلیل:

د زیربنا په برخه کې سرمایه ګذاری په نسبی توګه اوږدمهاله او زیاتې پانګې ته اړتیا لری

1. **د برښنا او انرژی د تولید په برخه کې د پانګونې فرصتونه:**

د اوبو څخه د ډکو سیندونو موجودیت چې د زابل ولایت څخه تیریږي یو ملی ثروت دی چې کولای شی کرهنې او د انرژی تولید ته تحول ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زابل دوه لوی سیندونه لري چې د ارغنداب او ترنک سیند دی په دغو سیندونو د برښنا دبندونو په ترلو سره به () هکتاره زراعتی ځمکې خړوبې شي او هم به () میګا واټه برښنا برابره شي.

## 2. د معدنونو داستخراج په برخه کې د سرمایه گذاری فرصتونه:

د کان کیندنې فعالیت د قانوني کولو ، په دوامداره توګه د کان کیندنې چارو نظارت او کنترول ، د منرالي سرچینو تثبیت او تشخیص او د محلي پانګونې لپاره د سهولت برابرولو په موخه د زابل ولایت د کانونو اداره د ۱۳۹۱ کال په اخر کې د کانونو او پترولیم وزارت تر چتر لاندې جوړه شوه

| شمیره | د طبعي سرچینې نوم | د کان ډول | د کان آدرس |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکندلان مس | مس | میزانه ولسوالي |
| | د کفتر غار مس | مس | میزانه ولسوالي |
| ۳ | شیله سرخ مس | مس | ارغنداب ولسوالي |
| ۴ | اپتو شیله المونیم | آلومینیم | ارغنداب ولسوالي |
| | ظواهر معدني سرب و جست لودین | سرب وجست | ارغنداب ولسوالي |
| ٦ | ظواهر معدني مولیبدیم کندلان | مولیبدیم | میزانه ولسوالي |
| ۷ | ظواهر معدني تنګستن میدان آهو | تنګستن | دایچوپان ولسوالي |
| ۸ | ظواهر قلعي وبریلیم میدان آهو | قع یو بریلیم | دایچوپان ولسوالي |
| ۹ | ظواهر معدني طلا کندلان | طلا | میزانه ولسوالي |
| ۱۰ | ظواهر معدني طلا لیودین | طلا | ارغنداب ولسوالي |
| ۱۱ | ظواهر معدني سرپینتین لاجر | سرپنتین | میزانه ولسوالي |
| ۱۲ | آب های منرالي باراس | معدني اوبه | دایچوپان ولسوالي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | معدن ابرک کاریز | د ابرک ډبره | دایچوپان ولسوالي |
| ۱۴ | سنگ های قیمتي بیتامور | یاقوت و زمرد | دایچوپان ولسوالي |
| ۱۵ | ظواهر معدني کرومایت الکوز | کرومایت | شهر صفا ولسوالي |

په زابل
ولایت
کې په
لاندې

ډول سره کانونه شتون لري خو تر اوسه پدې برخه کې کومه پانګونه نده شوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د معدنو په برخه کې سرمایه گذاری زیاتې پانگونې او تخنیکي ظرفیتونو ته ضرورت لری چې په اوسنی حالت کې دا ظرفیتونه په زابل ولایت او کلی توگه په افغانستان کې موجود نه دی په دې لحاظ د معدنونو په برخه کې باید بهرنۍ پانگونه جذب او د سرمایه گذاری زمینه ورته برابره شی .

اما تر ټولو مهم داده چې د کانونو او پترولیم وزرات دزابل ولایت د کانونو او معدني زیرمو سروې او د ظرفیت د تشخیص په برخه کې لازم اقدامات تر سره کړی ترڅو د وروسته گامونه لپاره لاره هواره شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اقتصاد او خصوصي سکټور انکشاف سکتور

## د سکټور په هکله لنډ مالومات:

اقتصادي پیاوړتیا او د خصوصی سکټور غښتلی کول د دولت د لویو او مهمو اهدافو څخه دي خصوصی سکتور ته پاملرنه دهیواد آبادی او بیارغونی ته پاملرنه ده، دخصوصی سکتور په شتون کی یو آزاد او سیال بازار رامنځته کیږی او خصوصی سکتوری اداری دباکیفیته خدماتو په عرضه کولو کی یو دبل څخه دوړاندی تګ په تکل کی وی چی په پایله کی په منطقه کی رغونه او سمسورتیا رامنځته کیږی. د خصوصی سکټور پرمختیا او اقتصادی وده د هوساینی ،عامه خوښی او سوکالی کچه لوړه وي او د دیموکراتیک نظام د پایښت لامل ګرځي.

د اقتصادي ودې او خصوصي سکتور پرمختیا سکتور په رأس کې د اقتصاد ریاست، د مستوفیت ریاست، دافغانستان بانک ،د سوداګری او صنایعو خونه، د احصاییی ریاست، د ارزاقو مدیریت، دایسا اداره، دکنترول او تفتیش ریاست، د نورم او ستندرد خپلواکه اداره، د اداري به فساد په وړاندې د مبارزې اداره ، دچاپریال ساتنې اداره ، کورنې او بهرنې موسسې، د همغږی موسسې UNDP, ACBAR,ANCB, شامل دي.

په زابل ولایت کې ددغو ادارو له جملې څخه یواځې د اقتصاد ریاست، د مستوفیت ریاست، دافغانستان بانک ،د احصاییی ریاست، د ارزاقو مدیریت، د چاپریال ساتنې ریاست شتون لری.

قلات چې د ولایت مرکز دی، سیمه ایز سوداګر لری چې لومړنی مواد د ګاونډیو ولایتونو او هیوادونو څخه واردوی او هغه بیا په مارکېټ کې خرڅوی او د دی ولایت په شاه جوی ولسوالی کی هم لوی بازار شتون لری چې تقریبا د ګڼ شمیر محلی سوداګرو ، پلورنکو او وړو لاس پلورونکو څخه تشکېل شوی دی. د یاد دوه (قلات او شاجوی ) بازارنو د لاری نورو ولایتونو لکه کندهار، کابل او غزنی ته د سوداګرو لخوا وچی میوی لکه (بادام، کشمش، شکرپاره، انځیر او توره زیره او سپینه زیره ...) او تازه میوی لکه ( انګور، انار، خټکی، هندوانی، زردالو او داسی نور ...) صادیرېږی.

پدی ولایت کې د بوختیا کمښت او د اقتصادی فرصتونو بیا منځ ته راتګ د افغانستان اسلامی جمهوریت لپاره یوه لویه ستونزه بلل کېږی. د زابل ولایت مرکز قلات اکثریت اوسیدونکې د نژدی ګاونډیو ولایتونو لکه کندهار، غزنی او میدان وردکو ولایتونو څخه راغلی. د امنیتی ستونزو له امله په خصوصی سکتور کې کمه پانګه اچونه شویده، نو له دی امله اقتصادی پرمختیا د رکود په حالت کې ده. اکثریت خلک ځانګړی کاراو بار یا د عایداتو د لاس ته راوړلو لپاره فرصتونه نلری د اکثریت خلکو ورځنې عاید د نفر په سره د یو ډالر څخه کم دی؛ پیراوپلور په بهرنیو اسعارو او دهغه له جملې په پاکستانی کالدارو باندی ترسره کېږی اوس مهال د ملی او نړیوالو سازمانونو مرستو پدی ولایت کې ځینی لنډ مهالی معیشتی ستونزی حل کړی دی مګر د ولایت د باثباته او اوږد مهاله ودی لپاره کفایت نه کوی. ددی په خاطر چې دغه ولایت د ښی ودی په لور روان شی نو سرچېنی باید د ملی او نړیوالو ټولنو لخوا په بیا بیا سره نوی او ژوندی شی.

د تیرو ۵ او ٦ کلونو د اقتصادی مداخلی په لړ کې ډیر کوښښ د بازار د سړکونو او د پیاده رونو جوړول او د بزګرانو لپاره د ښو کرهنیزو عملیاتو ښودل ؤ چې ښه تولید ترسره کړی، شامل وو. د منابعو او ظرفیتونو نه شتون یا کمښت سیمه ایز چارواکې پدی مسیر باندی روان کړی دی. اوس مهال کوښښ کېږی چې د زابل ولایت د نورو ځایونو سره وصل شی. د یوی ښی اقتصادی ودی او پراختیا او ښه تسهیل په موخه اقتصادی تمرکز باید د اړوندو ټولنو سره وصل کړل شی. دا مهال اکثره محصولات چې په زابل ولایت کې تولیدیږی د ګاونډیو ولایتونو په مارکېټونو کې په خرڅ رسیږی نو له همدی امله دا یو ډیر مهم لومړیتوب دی چې زابل ولایت د نورو سیمه ایزو مارکېټونه سره وصل شی لدی لاری به اقتصادی وده نوره هم پیاوړی شی سربیره پردی موخه یوازی دا نده چې یوازی غیرې پروسس شوی کرهنېز محصولات په مارکېټ کې وپلورل شی بلکې هغوی ته باید څه ناڅه ارزښت هم ورکړل شې یعنی پروسس شی او بیا په لوړ قیمت سره وپلورل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اقتصادی ودی لپاره تر ټولو یو ښه فرصت په لنډ او منځ مهاله کې د کرهنیزو محصولاتو زیاتوالی، د هغوی پلورل او په سیمه ایز ډول پروسس کول چې د پانګې اچونې ، زیربنا جوړولو په مرسته په عمومي ډول د خصوصي سکتور د فعالیت سبب کېږی،د زابل ولایت چاړواکې به د خپلوګاونډیو ولایتونو لکه قندهار، غزنی او اروزګان سره چې د اقتصادی مراکزو درلودونکې دی ، خپل اقتصادی فعالتیونه او بازارونه وصل کړی.

د مارکېټ پراختیا به په ۳مهمو ولسوالیو چې د قلات ، شاه جوی او شهرصفا کې جوړ شی څکه د دی ولسوالیو زیربنایی ساختمانونه د مارکېټونو په برخه کې ښه شوی دی او کله چې غوښتنې د موادو او خدمتونو لپاره په سیمه ایزو مارکېټونو کې ډیری شی نو سوداګر او پلورونکې باید د لویو مارکېټونو سره وصل شی لکه د کندهار او مرکز کابل مارکېټونه.

د اقتصادی ودی زون یا صنعتی پارک عبارت د هغه ځای څخه دی چې په هغه کې ډیر سوداګراو تجارتونه سره یوځای شوی وی او د ټولو موخه اقتصادی وده وی، د هغه کسانو لپاره چې په داسی ځایونکې یو سوداګریز فعالیت ترسره کوی د هغوی د تشویق لپاره متعدد کارونه ورکول کېږی. د بیلګی په توګه د مالیې کمول ، په ګمرکونو کې د تولیدی وسایلو او د هغوی په پرزه جاتو باندی هیڅ مالیه نه اخیستل، په صادراتو باندی مالیه نه ورکول او د ګمرکونو پروسجرونه آسانه کیږی دا فرصتونه به بهرنی سوداګر دی ته وهڅوی چې خپل سوداګریز فعالیتونه پدی پارکونو کې شروع کړی د زابل ولایت صنعتی پارک به د زراعتی محصولاتو د ارزښت د څنځیر په ښه کولو یعنی د میوو اوسبو پروسس، د یخو خونو یا ذخیرو او سوداګری ترانسپورت او د بزګرانو لپاره د لوژستیکې خدمتونو په برخه کې تمرکز کوی. صنعتی پارک به نه یوازی د دندو د پیدا کېدو سبب شی بلکې د ولایت لپاره به عایداتی منبع هم وی چې د هغه له طریقه کولای شی د نورو اقتصادی خدمتونو ملاتړ وکړی.

### د اقتصادي او خصوصي سکټور په وده کې د خصوصي سکټور د پانګونې کچه

| داقتصادی تولید او سوداګری په برخه کی دپانګونی کچه | | | |
|---|---|---|---|
| ګڼه | دفعالیت ډول | د تشبث نوع | پانګه |
| 1 | تجارتی | شرکت محدود المسؤلیت | ۱۵۳۰۰۰۰۰۰ |
| 2 | خدماتی | شرکت محدود المسؤلیت | ۴۰۸۰۰۰۰۰ |
| 3 | ساختمانی | شرکت محدود المسؤلیت | ۳۲۶۴۰۰۰۰۰ |
| 4 | تجارتی | مالکیت انفرادی | ۱۳۶۰۰۰۰۰ |
| 5 | ساختمانی | مالکیت انفرادی | ۱۰۲۰۰۰۰۰ |
| 6 | نور خدماتی فعالیتونه | مالکیت انفرادی | ۱۷۰۰۰۰۰۰ |
| | | مجموعه پانګونه | ۵۶۱۰۰۰۰۰۰ |

### په زابل ولایت کې د موجوده تولیدي کار خانو په اړه معلومات:

په زابل ولایت کې یوه د پلاستیکی پایپ جوړونې فابریکه، دوه دیخ جوړولو فابریکې د 15 میلیونه افغانیو پانګونې په ارزښت فعلا دزابل په مرکز قلات کې فعالیت لری چې شاوخوا 50 کسانو ته یې دکار زمینه برابره کړې ده چې په لاندې جدول کې یې معلومات خلاصه شوی دی

| شماره | دکار خانې نوم | آدرس | دتولید ډول | دکار کوونکو تعداد | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | افغان فابریکه | خرواریان | پلاستیکي پایپ جوړونه | 28-30 | |
| 2 | حاجي شاه محمود | خرواریان | یخ جوړونه | 5 | |
| 3 | حاجی اصغر | خرواریان | یخ جوړونه | 5 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

### دتوليدي فابريکو ستونزی:

دصنعتي پارک او برق دنشتون له امله په زابل ولايت کې د صنعت په برخه کې پانګونه بې کچې  کمه ده چې يواځې دوه درې کوچنی فابريکې فعاليت لرې چې د برښنا او صنعتی پارک دنشتون له امله د ګڼو ستونزو سره مخ دی ځکه دوی دخپلو ورځنيو چارو دسرته رسولو لپاره برښنا ته اړتيا لرې چې زابل ولايت د ورځې لخوا هيڅ برښنا نلری  چې د توليدي فابريکو مسولين يی دې ته مجبور کړی چې  دبرښنا دتوليد لپاره په لوړ قيمت ماشينری راونيسی همدارنګه د ماشينری دتيلولګښت ډير زيات دی چې ددوی توليد او ګټه يی دخطر سره مخ کړې ده ددغو فابريکو مسولين وايی که چيرته دوی ته لازم سهولتونه لکه ځمکه، برښنا او امنيت برابر شی  د دوی ترڅنګ ډير نور پانګوال  دې ته حاضر دی چې په مختلفو برخو کې پانګونه وکړی.

### په زابل ولايت کی شته فعال بانکونه:

د بانکونو شمېر د دولتي او خصوصي بانکونو په تفکيک سره.

دزابل په ولايت کی ټول ۴ بانکونه فعاليت لری چی يو  دولتی او ۳ خصوصی بانکونه دی

| زابل ولايت کی ددولتی اوخصوصی بانکونو فهرست | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ګڼه | دبانک نوم | نوعيت | دڅانګو شميره | دکار کوونکو تعداد |
| ۱ | دافغانستان بانک | دولتی | ۱ | ۱۳ |
| ۲ | نوی کابل  بانک | نيمه دولتی | ۱ | ۱٦ |
| ۳ | عزيزی بانک | خصوصی | ۱ | ۱۲ |
| ۴ | دافغانستان اسلامی بانک | خصوصی | ۱ | ۸ |

### دمرغدارۍ په برخه کې سرمايه ګذاری:

#### دچرګانو فارمونه:

دهيواد په سهيل لويديځ کې پروت زابل ولايت هم دهيواد دنورو ولايتونو په شان دمرغداری دفارمونو دصنعت به برخه کې دسرمايه ګذاری لپاره ښه فرصتونه لری، فعلا په زابل کې تقريبا ۲۰ کوچنی او متوسط دچرګانو  او تخمی فارمونه موجود دی چې په ورځنی توګه د ۲۵۰۰ کيلو ګرامه غوښې دتوليد ظرفيت لری چې په دغه برخه کې تقريبا ٦۰ نفرو ته دکار زمينه برابره شوی ده په داسی حال کې چې زابل په ورځنی توګه تقريبا ۳۳۰۰ کيلو ګرامه دچرګ غوښه مصرفوی.

په زابل کې دموجوده مرغداری دفارمنو دتوليد ظرفيت:

په زابل کې تقريبآ ۲۰ کوچنی او متوسط دچرګانو تخمی او ګوشتی فارمونه فعاليت کوی چې مجموعی ورځنی دتوليد ظرفيت يی تقريبا ۲۵۰۰ کيلو ګرامه دچرګانو غوښې او ۳۰۰۰  دانې هګی  دتوليد ظرفيت لری

دچرګانو دغوښې او هګيو په برخه کې دزابل ولايت مجموعی اړتيا/تقاضا:

دهغه سروې له مخی چې داقتصاد رياست له لوری د کرهنې رياست په همکار تر سره شوه زابل تقريبا ۳۳۰۰ کيلو ګرامه دچرګانو غوښی ته په ورځنی توګه اړتيا لری او همدارنګه د لس زره څخه تر دولس زره عدد هګيو ته دورځی اړتيا لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په زابل کې دموجوده فارمونو ستونزی او مشکلات:**

په زابل کې دفارمونو خاوندان دهیواد دنورو ولایتونو په نسبت دزیاتو ستونزو او ننګونو سره مخ دی چې په لاندی ډول دی:

- په زابل کې دچرګانو دخوراکی موادو نشتون
- دچرګانو دناروغیو او واکسینو لپاه دهیڅ سهولت نه موجودیت
- امنیتی مشکلات
- دچرګانو دروزنی او پالنی لپاره ددولت نه همکاری
- دچرګانو دغوښو قراردادونه دنورو ولایتو دشرکتونو سره کول
- دفارمونو دایجاد او توسعی په برخه کې ددلت نه همکاری
- په زابل ولایت کې په کافی اندازه دحیوانی کلنیکونو او حیوانی درملتونونو نشتون

**وړاندیزونه:**

دنویو فارمونو دجوړولو په برخه کې ددولت په ځانګړی توګه دهغو موسساتو همکاری چې دمرغداری دصنعت په برخه کې فعالیت کوی دغه موسسات باید د معیاری فارمونو دجوړیدو لپاره باید دفارمنو دخاوندانو سره هراړخیزه همکاری وکړی(دفارم جوړیدل، دتجهیزاتو برابرول او داسی نور)

دفارمونو خاوندانو ته لنډ مهاله کورسونه دایریدل: څرنګه چې دچرګانو روزنه خورا سخت کار دی او چرګان دناروغیو او محیطی شرایطو په مقابل کې ډیر حساس دی او زر عکس العمل ښیی نو لازمه ده چې دفارمونو خاوندانو ته په دې برخه کې زده کړې ورکړل شی ترڅو دوی دچرګانو دناروغیو، واکسینو، ددرملنی، روزنی او پالنی په برخه کې پوره آګاهی ورکړل شی

دفارمونو دوضیعت دښه والی لپاره باید دولایت په کچه حد اقل یو حیوانی کلینک وجود ولری چې دچرګانو ټول درمل، واکسین، او هرڅه چې دچرګانو دروغتیا لپاره اړین وی باید په کې موجود وی

تجاران او پانګې اچوونکی باید وهڅول شی ترڅو په دغه برخه کې سرمایه ګذاری وکړی

دکندهار ولایت او زابل ولایت دشرکتونو ترمنځ دهمغږی او ارتباطاتو ټینګول ترڅو په تخنیکی برخه کې دزابل له شرکتونو سره همکاری وکړی

دولایت په کچه دچرګانو دپالنی او روزنی دیو متخصص ګمارنه ترڅو په زابل کې دټولو فارمونو څخه نظارت وکړی دچرګانو ناروغۍ تشخیص او ددرملنی لپاره یی ورته لازمی مشوری او درمل توصیه کړی

دولایت په کچه دبازار موندنی په برخه کې دشرکتونو سره همکاری

ددولت لخوا دچګانو دغوښی کوم لوی قرار دادونه چې کیږی باید لمړیتوب دزابل فارمونه ته ورکړل شی

دچرګانو دفارمونو امنیت ته ځانګړی پاملرنه وشی

چرګانو د وارداتی او بی کیفیته غوښو په ځآی باید داخلی تولید ته لمړیتوب ورکړل شی

دچرګانو دخوراکی(دانې) دپروسس او تولید دفابریک جوړیدل په زابل ولایت کې

د چو چه کشی دفارمونو دجوړیدو لپاره باید هڅی وشی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دبیوزلی وضیعت او دکاری ځواک سلنه:

### د بې وزلی وضعیت:

دزابل ولایت په سطحه دبی وزلی دکچې ارقام شتون نلری او نه هم کومه سروی ترسره شوی خو دیو شمیر معتبرو راپورونو د ټول افغانستان په کچه دبېوزلی کچه 54٪ ښوودلې او د 1399 مال کال دملی بودجې په مسوده کې دزابل ولایت دبیوزلی کچه 76.9 سلنه ښوودل شوې ده چې ادا په دې مانا ده چې دزابل په هرو سلو کې 76 کسانو سرانه میاشتنی عواید له 2060 افغانیو کم دی.

### د کارې ځواک سلنه :

په زابل ولایت کې دکاری ځواک(نیرو) دتشخیص په برخه کې کوم سروې نه ده تر سره شوی چې دا په ډاګه کړی چې څومره خلک دکار په شرایطو برابر دی او په کومه اندازه په کار او بیکاره دی اما ویلای شو چې دملکی خدمتونو په ادارو کې ټول 2217 نارینه او 107 ښځینه په دندو بوخت دی، همدارنګه شاوخوا 2000 کسانو ته د موسساتو له طریقه دکار زمینه برابره شوې ده او شاوخوا 3000 کسانو ته دساختمانی، لوجیستیکی او خدماتی شرکتو نو لخوا د 1398 مالی کال په جریان کې دکا ر زمینه برابره شوی وه

### د اقتصادی ودی د سکتور بودجه، راټول شوی عواید او په دغه سکتور کې دپانګې اچونی د فرصتونو تحلیل:

داچې د زابل مســـتوفیت یو مالي اداره ده او دنده یې د مالیاتو راټولول او د عوایدو د ســـطحی لوړول او د ټولو ملکی او نظامي اداراتو معاشات او مصارفاتو د اجرا چارو مسولیت په غاړه لری یاد ریاست ددی چارې لپاره کار اهل کار ته د سپارلو لپاره رغنده ګامونه پورته کړې چې د دولت عوایدو کی د تیر کال په پرتله بی ســاري لوړوالي راغلی چې په لاندی جدول کې ښوودل کیږی

د زابل ولایت د مستوفیت ریاست لخوا په تیرو دریو کلونو کې د راټولو شویو عوایدو جدول:

| ګڼه | کال | مالیاتی عواید | غیر مالیاتی عواید | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | 1396 | 74222140 | 29850776 | 104072916 |
| ۲ | 1397 | 86890089 | 37314474 | 124204563 |
| ۳ | 1398 | 79693121 | 68551697 | 148244818 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 1 - د اقتصادي ودې او خصوصي سکتور پرمختیا سکتور دتیرو کلونو انکشافی بودجه:

| ګڼه | اداره | کال | ورکړل شوی انکشافی بودجه | د بودجي مصرف فیصدی |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د اقتصاد ریاست | 1396 | 0 | 0 |
| | | 1397 | 60,765 | 98% |
| | | 1398 | 465,624 | 93% |

په تیرو کلونو د اقتصادی ودی سکتور اړوند یوازی د اقتصاد ریاست انکشافی بودجه درلوده چي مصرف شوی ده

### 2 - د اقتصادي ودې او خصوصي سکتور پرمختیا د تیرو څو کلونو عواید:

| ګڼه | اداره | کال | د عوایدو مجموعه |
|---|---|---|---|
| 1 | مستوفیت | 1396 | 104072916 |
| | | 1397 | 124204563 |
| | | 1398 | 148244818 |
| 2 | مدیریت ارزاق | 1395 | 203200 |
| | | 1396 | 365000 |
| | | 1397 | 421000 |
| | | 1398 | 431000 |
| 3 | د احصایی او معلوماتو ریاست | 1395 | 185000 |
| | | 1396 | 150000 |
| | | 1397 | 12500 |
| | | 1398 | 105000 |
| ټولټال راټول شوی عواید | | | 378394997 |

د اقتصادی ودی اوخصوصی سکتور د انکشاف سکتور په تیرو څلورو کلونو کي د (378394997) میلیونه افغانی مالیاتی او غیر مالیاتی عواید د مختلفو برخو څخه راټول کړی او ددولت حساب ته جمع کړی دی.

### 3 - د اقتصادي او خصوصی سکتور پرمختیا سکتور کي د خصوصی پانګوني کچه او په دې برخه کې شته فرصتونه:

دزابل ولایت ښځینه د لاسی صنایعو په برخه کې ، ډول ډول قمیصان جوړول ، کمپیوتري غاړي جوړول، خامک دوزي، سلمه دوزی، چرمه دوزی او داسې نور په لاس جوړشوی توکي جوړیري چي دښځینه وو دلاسی صنایعو دپلور او تولید لپاره د یو معین ځای او سهولت د نشتون له امله دا لاسی صنایع په پراګنده او عنعنوی توګه تولیديږي او ددغو لاسی صنایعو د تولیداتو د ودې لپاره هم هیڅ پاملرنه نه ده شوی ترڅو زیات شمیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځو ته په دې برخه کې کار پیداشی، ددوی داقتصادی پیاړتیا سبب شی اوهم وکولای شی  دلاسی صنایعو په برخه کې لېترلږه د ولایت، سیمې او هیواد اړتیاوې پوره کړي.

که څه هم دکار او ټولنیزو چارو ریاست لخوا هر کال یو تعداد ښځې دحرفوی زده کړو څخه فارغیږي مگر د ښځینه وو دلاسی صنایعو د تولید او پلور دبازار دنشتون له امله یی اغیز کم دی.

## دښځینه لاسی صنایعو ارزښت په لاندی ډول ده

۱- د کورنی  اقتصادی پیاوړتیا.

۲- دخپلی کورنی  لپاره حلال رزق او نفقه  پیداکول.

۳- د ښځو لپاره ځانګړی بازار چمتو کول.

۴- په ټولنه کی لاسی صنایعو ته دښځو تشویقول.

۵- په ټولنه کی دښځو ګډون او د غربت او بدبختی له منځه وړل.

٦ـ ښځو ته دکار زمینه برابرول.

## دمرغداری په برخه کې سرمایه گذاری:

**دچرګانو فارمونه:**

دهیواد په سهیل لویدیځ کې پروت زابل ولایت هم دهیواد دنورو ولایتونو په شان دمرغداری دفارمونو دصنعت به برخه کې دسرمایه گذاری لپاره ښه فرصتونه لری، فعلا په زابل کې تقریبا ۲۰ کوچنی او متوسط دچرګانو  او تخمی فارمونه موجود دی چې په ورځنی توګه د ۲۵۰۰ کیلو ګرامه غوښې دتولید ظرفیت لری چې په دغه برخه کې تقریبا ٦۰ نفرو ته دکار زمینه برابره شوی ده په داسی حال کې چې زابل په ورځنی توګه تقریبا ۳۳۰۰ کیلو ګرامه دچرګ غوښه مصرفوی.

په زابل کې دموجوده مرغداری دفارمنو دتولید ظرفیت:

په زابل کې تقریبا ۲۰ کوچنی او متوسط دچرګانو تخمی او ګوشتی فارمونه فعالیت کوی چې مجموعی ورځنی دتولید ظرفیت یی تقریبا ۲۵۰۰ کیلو ګرامه دچرګانو غوښې او ۳۰۰۰  دانې هګی  دتولید ظرفیت لری

دچرګانو دغوښی او هګیو په برخه کې دزابل ولایت مجموعی اړتیا/تقاضا:

دهغه سروې له مخی چې داقتصاد ریاست له لوری د کرهڼی ریاست په همکار تر سره شوه زابل تقریبا ۳۳۰۰ کیلو ګرامه دچرګانو غوښی ته په ورځنی توګه اړتیا لری او همدارنګه د لس زره څخه تر دولس زره عدد هګیو ته دورځی اړتیا لری

## دزابل دشملزایی ګمرک:

زابل له پاکستان سره ٦۴ کیلو متره فرضی کربنه لری چې ۳۰کیلو متره  یی دکندهار ولایت دپوله ساتونکو ځواکونه لخوا ساتل کیږی او نور پاتې په بشپړه توګه ساتونکی نلری همدا لامل دی چې دتجارتی توکو ترځنګ ډیری وخت ددولت مخالفان او عام خلک بی کیفیته مواد په قاچاقی او غیر قانونی توګه له دې لاری واردوی او ددتجارتی توکو محصول هم ددولت دمخلفانو لاسته لویږی، دزابل ولایت دګمرک رغول به  دلاری دلنډوالی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقاچاقي او غير قانوني واردتو په مخنيوی کې مهم رول ولوبوی او هم هيواد داقتصادی ودې ، امنيت ټينګښت او  دهيواد دګمرګی عايداتو په زياتولای کې به مهم اغيز ولری.

**صنعت:**

دصنعت په برخه کې البسه، روغنيات، معدنی اوبه او ګازداره نوشابه باب، پلاستيکی او لاستيکی شيان، نجاری او فرنيجر ديکور، مربا، ملايی او دديګه مساله باب، چاکليت، شيرينی، ميټايی، کيک او کلچه، رنګ جوړونه لاسيی صنايع لکه ګلدوزی، خياطی، کمپيوتری غاړې، دخامک غاړې او ډول ډول کميسانو دجوړلو پوره امکانات شته چې فعلا دصنعت په برخه کې کاملا غير فعال دی  که ورته پاملرنه وشی دذکر شويو توکو په توليد سره به نه يواځی ډير شمير خلکوته دکار زمينه برابره شی بلکی ديادو توکو په توليد سره به ددغو توکو دوارداتو کچه دپام وړ راکمه شی چې دا دهيواد دتادياتو دسيستم په تحکيم کې عمده رول لوبولی شی.

**خدمات:**

زابل ولايت دخدماتو په برخه کې لاندې اقتصادی فرصتونه لری

پراخه او تش مارکيت دتجارتی توکو دخرڅلاو لپاره

دمشورتي شرکتونو نشتون

دښوونې او روزنی په برخه کې بی مثاله اړتيا چې په ډيره کمه اندازه خصوصی ښوونيز مرکزونه، انستيتيوت، ښوونځی او ليسی،

دمخابراتی او تخنيکی خدمتونو په پراخه پيمانه نشتون او په دې برخه کې دکار موقيع

دمخابراتی خدماتو رسول دولايت ټولو ولسواليو او کليو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حکومت والی سکتور

## د سکټور په هکله لنډ مالومات

### ټولنیز اوسیاسی جوړښتونه:

د حکومت والی سکتور په رأس کې د عدلیې ریاست او غږي اداري یې عبارت دي له د محکمې ریاست، د ځارنوالی ریاست، دحج اوقاف ریاست، د اداري اصلاحاتو او ملکی خدمتونو خپلواک کمیسیون آمریت، د انتخاباتو خپلواک کمسیون اداره، ولایت مقام او ولایتي شورا شامل دي

1. د عدلیی ریاست:

دعدلیی ریاست په لاندی برخو کې هیواد والو ته خدمات وړاندی کوی:

- دحقوقو آمریت
- دقضایای دولت آمریت
- دحقوقی مرستو مدیریت
- دسیاسی احزابو دانسجام شعبه

دحقوقو آمریت لاسته راوړنی:

هغه عواید چی دحق الثبت او ده یکی څخه په لاس راغلی 144004 افغانی دي

141 عریضی نوموړی اداری ته راغلی دی چی له جملی څخه یی 52 املاکی ، 73 دیون، 13 فامیلی او 3 کوچنی تجارتی دی

**دقضا یای دولت آمریت لاسته راوړنی:**

10013 جریبه ځمکه ددولت په نفعه قرارداد صادر شوی له (غصب څخه مخنیوی شوی دی)

**دحوقوقی مرستو آمر یت لاسته راوړنی:**

195 قضیی نوموړی اداری ته راغلی دی چی له جملی یی 242 نفر بیوزله، شکمن او تورن پکی و .

**دکوچنیانو داصلاح او روزنی آمریت لاسته راوړنی:**

10 نفر ذکور اطفال په مرکز اصلاح کی ساتل شویدی .

10 نفره کوچنیانړ لپاره د سواد زده کړی ، ټولنیزی برنامی او د سپورت په برخه کی کارشویدی.

هغه فرمانونه چی د محجوزینو د عفو او تخفیف په اړه راغلی دی تطبیق شویدی.

دوه نفر د سن د لوړوالی له امله د محبس مدیریت ته انتقال شویدی .

### ښه حکومتوالی:

**د ښی حکومتوالی تعریف:** د ښی حکومتوالی په هکله نړیوالی اداری لکه د ملګرو ملتونو انکشافی اداره ( UNDP )، اروپایی ټولنه، نړیوال بانک، معاصر (نوو) او قدیم (پخوانی) پوهان، ځانګری تعریفونه لری. همداشان په اسلامی علومو کی هم د ښی حکومت داری ځانګری تعریفونه او بیلګی په ښه شوی دی، چی مخکی یی یادونه وشوه. دلته څو تعریفونه د بیلګی په توګه در سره شریکوو:

۱- شفافیت، برخه اخیستنه، احتساب، موثریت او هماهنګی د حکومت داری په ټولو سطحو کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- په یو ملک کی د خلکو د ښه ژوند کولو لپاره په ادارو کی د قدرت استعمال.

۳- تفاهم، مساوات، د قانون حاکمیت او په تصمیم گری کی د تولو پرگټو ونده اخیستنه.

۴- په عمومي توگه ښه حکومت داری په تولو رسمی او غیر رسمی ادارو کی د کلتور، روایتونو او اصولو مجموعه ده، چی څنگه دوی خپل قدرت استعمالوی، څنگه د خلکو غوښتنو ته غوږ نیسی او څنگه د خلکو ستونزی د حل په موخه پریکړی کوی.

## ناسالمه حکومتوالی

د بدی یا ناسالمی حکومتداری انجام په لاندی دول دی:

د ناسالمی حکومتداری په پایله کی تولنه د لاندی ناخوالو سره مخامخ کیږی:

۱- د ناسالمی حکومتداری لومړنی اغیز اداری فساد، رشوت او بډی اخیستنه ده، له قدرت څخه نا وړه گتی اخیستنی ته فساد وایی. بدی اخیستنه او بډې ورکونه او تر منځ یی وساطت کول دری واړه په اسلام کی ، د افغانستان په قوانینو او هم د ولس په منځ کی ناوړه عمل گنل کیږی. څکه رسول الله صلی الله و علیه وسلم فرمایی: ( الراشی و المرتشی و الرایش، الذی یمشی بینهما ) .

۲- د ناسالمی حکومتداری په موجودیت کی همیشه د عامه ښیگنو لپاره د منابعو کمښت رامنځ ته کیږی خلک پانگونی ته زړه نه ښه کوی، چی په پایله کی اقتصادی پرمختگ له رکود سره مخامخ کیږی او ولس هم دول دول ستونزی گالی.

۳- کله چی اداری فساد عام شي نو د ژوند د هر کار لپاره باید ولس باج یعنی بډی ورکړی.

۴- د دولت مال خپل نه گنل د ناسالمی حکومتداری مهمه برخه ده. مونږ او تاسی په موجوده حالاتو کی گورو چی دولتی مالونه لکه موتر، ودانی، باغونه یا نورو وسایطو نه څنگه ناوړه گته اخیستل کیږی، دوی دغه توکی او اموال خپل ملکیت نه گنی نو څکه خو یی په استعمال کی هم له احتیاط نه کار نه اخلی. د دولتی مالونه په ساتنه کی څنگه چی یو تن له خپل مال نه ساتنه کوی هماغه سی ساتنه او پاملرنه باید د دولتی مالونو نه هم وشی.

۵- د ناسالمی حکومت داری په پایله کی بی باوری زیاتیږی او اجتماعی بی اعتمادی رامنځته کیږی اوس مونږ گورو چی دولت په خپل ولس او ولس په دولت باور نه لری او د هری ورځ په تیریدو سره د ولس او دولت تر منځ واتن زیاتیږی.

٦- د ناسالمی حکومتداری په موجودیت کی اجتماعی شخړی زیاتیږی، مونږ گوړو چی زمونږ په سیمو کی کورنی او اجتماعی شخړی زیاتی شوی، چی نه د حکومت ددې توان لری چی دا شخړی حل کړی او نه پری د ولس توان رسیږی، چی ښه بیلگه یی د شینوارو شخړه ده چی په لسگونو کسان په خالی داگ باندی ووژل شول او اوس هم لا حل شوی نه ده.

۷- کله چی ناسالمه حکومتداری اوج ته رسیږی، نو په دولتی ادارو (حکومت، پارلمان او قضا) باندی اعتماد نه کیږی. نه یواځی د دی ادارو فعالیت او هلی ځلی په تپه دریږی، بلکه دغه اداری د خپل تر منځ د یو بل فعالیتونو د خنثی کولو هڅی کوی چی په موجوده حالت کی موږ دا وضعیت په افغانستان کی گورو. د دی پر ځای چی د دولت دری گونی قوا وی یو بل حمایه وکړی پر یو بل تورونه لگوی او د کارونو د پرمختگ په مخ کی خندونه راپورته کوی، چی دی کار د حکومت اثر ته دیر زیان اړولی دی.

۸- بلاخره د ناسالمی اداری په شتون کی د ولس د اقتصادی وضعیت خرابیږی، بشری او مدنی حقوق تر پښو لاندی کیږی او امنیتی وضعیت دومره خرابیږی، چی د دولت د سقوط سبب هم گرځی.

## د ښی حکومتوالی اړخونه:

۱- سیاسی

۲- اقتصادی

۳- دولتی موسساتو ته احترام

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اول ـ سیاسی اړخ:

د ښی حکومتداری سیاسی اړخ د قدرت نیولو او د انتخاب پروسه ده چی په یو ملک کی منتخب یا انتصابی دولتی چارواکی څنګه د خدمت لپاره تاکل کیږی. که په یو هیواد کی دولتی چارواکی د یوی سالمی او شفافه پروسه له لاری وتاکل شی، نو د ښی حکومتداری او ښی والی ننبی د همدی پروسی نه پیل کیږی. په سیاسی پروسو که د خلک رول دیر مهم دی چی څنګه خپله رایه یو پوه، امانت گر او د ولس خدمتګار شخص ته ورکړی. څکه پوهه، امانت داری او خدمت دری واړه سره تړلی دی. که یو شخص پوه وی خو امانتداره نه وی بیا هم د ولس په درد نه خوری او که یو شخص پوه او امانت داره هم وی خو د خدمت جوګه نه وی نو بیا هم د ولس درد نه پرې دوا کیږی. یو شخص باید هم عقل ولری او هم احساس که یو څوک عقل ولری خو احساس د خدمت کولو ونه لری نو دا ډول کسان هم د ټولنې لپاره ګټور نشی ثابت کیدای.

## دویم ـ اقتصادی اړخ:

په اقتصادی اړخ کی د یو دولت په دی پوری تړلی دی څنګه خپله منابع او عایدات راټول او هغه په سمه توګه د یو صحیح پلان او پالیسی له لاری مصرف کړی. مونږ ګورو چی په تیرو دری لسیزو کی افغانستان ته ده شرق او غرب او هم د عربو او عجمو په سلګونو میلیارده دالره، روبل، ریال او کلداری راغلی خو دا چی زموږ د وخت حکومتونو او زوراکانو سالمه اداره او سمی پالیسی د دی مرستو د لګښت لپاره نه درلودی نو سمه ګته تری وا نه خیستل شوه او افغانستان اوس هم د نړی د فقیرو هیوادونو په لړ کی دی.

په اقتصادی او انکشافی بحث کی ویل کیږی، چی د یو ملک پرمختګ یواځی په دی پوری اړه نه لری چی زیاتی طبیعی زیرمی او منابع ولری څکه ډیر داسی هیوادونه شته چی ډیرې طبیعی زیرمی لری خو د دنیا فقیر او وروسته پاتو هیوادونه دي او د نا امنه هیوادونو په لړ کی راځی چی ښې بیلګی یی د کانګو، سودان او نایجیریا هیوادونه دی، اما ډیر داسی هیوادونه شته چی طبیعی زیرمی نه لری خو د نړی د پرمختللو هیوادونو له ډلی څخه دی لکه جاپان او دبی که موږ اسلامی تاریخ ته نظر واچوو کله چی بیت المال کی خیانت نه کیده او مالیه (زکات او عشر) ورکول کیده او بیرته د ولس د ښیګڼی لپاره مصرفیده یعنی حکومتداری ښه وه نو اسلامی نړی مخ په پرمختګ روانه وه او اسلامی علماءو به نوی نوی ایجادونه کول خو کله چی په بیت المال کی خیانت پیل شو، حکومتداری ناسالمه شوه او د مالیه ورکړی نه ډډه وشوه نو اسلامی هیوادونه مخ په تنزل شول.

## دریم ـ دولتی موسساتو او قوانینوته د احترام په سترګه کتل

دریم مهم اړخ ښه حکومتداری د دولتی ارګانونو او هم د ولس لخوا دولتی موسساتو او قوانینو ته د احترام په سترګه کتل او د هغی منل خورا مهم ده . د افغانستان د اساسی قانون په اساس د دولت د دری ګونو قواو مسئولیتونه او صلاحیتونه په ګوته شوی دی . که پارلمان کوم تصمیم نیسی باید اجرایه قوه هغه ومنی او ده مقننی قوی فیصلی باید تطبیق کړی همداسی مقننه قوه هم باید د اجرایه قوی نظارت وکړی نه چی د اجرایی قوی په چارو کی مداخله وکړی . د مقننه قوی صلاحیت دی چی وزیرانو او قاضیانوتو ته د اعتماد رایه ورکړی او یا دوی صلب اعتماد کړی خو د وکیلانو فیصلی او رایی باید د تنظیمی ، قومی او یا شخصی ګټو په بنیاد نه وی بلکه د اهلیت ، خدمت او صداقت پر بنیاد وی . په زابل ولایت کی هغه سیاسی حزبونه او مدنی ټولنی چی ثبت او راجستر لری او د هغوی له جملی څخه فعال او غیرفعال په جدول کی مل ددی مکتوب سره مل تاسو ته درلیږل کیږی.

## سیاسي ګوندونه

په زابل ولایت کی یواځی یو سیاسی حزب (د سولی د غورځنګ) تر عنوان لاندی فعالیت لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

### قومی شوراګانی :

دهغه قومی شورا ګانو لیست چی دعدلیی ریاست سره ثبت او راجستر دی :

| شمیره | دقومی شورا نوم | شهرت | | موقف | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نوم | د پلار نوم | | |
| 1 | د وردګو قومی شورا | حاجی نقیب الله | شیرمحمد | رئیس | |

### هغه مدنی ټولنی چی دعدلی ریاست سره ثبت دی:

| شماره | دمدنی ټولنی نوم | رئیس | معاون | منشی | عضوه | داړیکی شمیره |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | نوښت مدنی ټولنه | ناصر جمال | نصیر احمد | خالقداد صمیم | عصمت الله، محمد نبی، عسی محمد، ورمه توخی،جنت ګل، حکمت الله، عصمت الله | 070099396 |
| 2 | ځوان زابل مدنی ټولنه | فیض محمد | غلام دستګیر | پښتونمل | | 0700902080 |

هغه عواید چی درهنمایی معاملات او عریضه نویسانو څخه په 1398 کال کې لاسته را غلی او ددولت عوایدو حساب ته جمع شوی 106020 افغانی دی.

### مذهبی او ديني چارې:

دزابل دحج اوقافو ریاست 129 تنه تشکیل لری چی دهغی له جملی 42 تنه اداری پرسونل او 87 تنه دعلمای کرامو تشکیل دی.

دزابل دحج اوقاف ریاست ۴ برنامی لری چی په لاندی ډول دی

دارشاد او مساجدو برنامه

دحج او زیارت برنامه

داوقافو، عشر او ذکات برنامه

### د ارشاد او مساجدو برنامه:

د ارشاد او مساجدو برنامه د مساجدو او مدارسو د ثبت او کنترول په برخه کې فعالیت کوی او هغه مساجدو ته چې د دولت سره ثبت او رسمي دی هغه خطبی چی د وزارت مقام له لوری را لیږل شوی ملا امامانو او خطیبانو باندی ویشل شوی تر څو د ټآکل شویو موضوعاتو سره سم د جمعی د ورځی خطبی بیان کړی او همدارنګه د مختلفو موضوعاتو په هکله د علمای کرامو نظر د اسلامی فقهی مطابق اخلی او نشر کوی او د هغوی شرعی فتوایی اخلی، ددی ترڅنګ د قبلی تعینول د مساجدو اعمار او ترمیم عرایض اخیستل او مربوطه مرجع ته استول، د امامانو او حکومت ترمنځ هما هنګی رامنځته کول او د ولس او حکومت ترمنځ واټن ختمول یی مهمی دندی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زابل ولایت په سطحه د ارشاد حج اواوقافو ریاست سره تقریباً (۲۳۷۰) محرابه جامع او غیر جامع مساجد ثبت او راجستر شوی چی لدی جملی څخه (۹۸) مساجد دولت سره رسمی او متباقی غیر رسمی دی چی (۴۴) محرابه جامع او (۵۴) محرابه غیر جامع او متباقي ۲۲۷۲ محرابه مساجد غیر رسمی دي، دارشاد حج اواوقافو ریاست سره تقریباً (۵۴) په تعداد مدارس ،حلقات او دارلحفاظونه ثبت او راجستر دی.

د ارشاد او مساجدو د برنامی دلاری په مرکز قلات کی د ارشاد حج او اوقافو وزارت مقام د حفظ او مراقبت په عادی بودیجی (۲) دوه محرابه مساجد ترمیم شوی.

په مرکز قلات ښار کې د جمهوری ریاست د عالی مقام له لوری یو محراب نمونوی مسجد او یو فاتحی لپاره صالون جوړیږی ، چی (۹۰) سلنه کار یی پوره شوی دی .

د زابل ولایت په (۱۱) ولسوالیو کی د ریاست جمهوری عالی مقام له لوری مساجد جوړیږی چی د یادو مساجدو لپاره ځمکی د اهالی خلکو له لوری وقف شوی په لنډ وخت کی به یی تعمیراتی کارونه هم پیل شی .

د زابل د ارشاد حج او اوقافو ریاست د دینی زده کړو د مدیریت له لوری وخت په وخت د خصوصی مدارسو ترمنځ د حسن قرائت او سیرت نبی (ص) سیالی جوړیږی .

په روان کال کی ۵ محرابه مساجد د زابل ولایت په مرکز قلات، ارغنداب، شاه جوی، شهرصفا او میزانی ولسوالیو کی ترمیم شوی دي.

د ارشاد حج اواوقافو ریاست پخپل تشکیل کي د احتساب مدیریت لری چي ټولی د امربالمعروف او نهی عن المنکر چاري پر مخ وړي چی پخپل ټول توان سره یی غیر شرعی تعویزنویسان، کف شناسان، کاهنان او ساحران له ښار څخه ورک کړی دي.

## د حج او زیارت برنامه:

دغه برنامه د حج او زیارت چاری پرمخ وړی او د حج او عمری په برخه کې خلگو ته خدمات وړاندی کوی

د زابل ولایت دارشاد حج اواوقافو ریاست (۲۸۰) تنه دحج سهم لری چی په 1398 کال کی ( 347 ) تنه حجاج کرام فرضی حج لپاره سعودی عربستان ته تللی چی لدی جملی څخه (67) تنه د اداراتو او پارلمان په سهم کی تللی متباقی ( ۲۸۰ ) تنه د ریاست خپل سهم کی تللی اوبیرته خپل هیواد ته راستانه شوی چی الحمدالله ډیر په ارامه فضاء کی یی خپل د فرضی حج مراسم ترسره کړی چې هغوی د حج اوقافو د لخوا د استول شویو استادانو لخوا د حج د مراسمو په دوران کې لاربښوونی شوی ترڅو د شریعت او احکامو مطابق خپل حج وکړی.

د اوقافو، عشر او زکات برنامه:

دغه برنامه د اقافی ځمکو کنټرول او نظارت کوی او همدارنګه د عشر او زکات د تعین او راټولولو مسولیت په غاړه لری ددی ترڅنګ د هدیری د ځمکو د تعین او کنټرول مسولیت لری

د ارشاد حج اواوقافو ریاست له ځان سره وقفی ملکیتونه ثبتوی او د هغی څخه نظارت او کنترول کوی چی په ولسوالیو او مرکز مختلفو ځایونو کی وقفی ملکیتونه لری چې عواید ی ی رسماً دولت حساب ته انتقالیږی.

د زابل ولایت د ارشاد حج و اوقاف ریاست په وړاندیز د وزیرانو شورا د 1 شمیری مصوبی د 20/1/1398 نیتې په اساس 60 جریبه ځمکه د قلات ښار د عمومی هدیری لپاره د ۹ میلیونه افغانیو په بدل کی د قلات په گرم آب په سیمه کی ځانګړی شویده .

د حج اوقافو ریاست ۷۰ جریبه اوقافی ځمکه په قلات ښار غصب شوی.

په قلات ښار کی 8 بابه اوقافی دوکانونو اود یوی موقتی غرفی کلنی کرایی عواید د اوقافو خاص بانکی حساب ته انتقالیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د حکومتوالی او قانون د حاکمیت د سکتور انکشافي بودجه،عواید:

### ۱ – د تیرو کلونو د انکشافي بودجه مصرف:

| ګڼه | سکتور | اداره | کال | راغلی بودجه | مصرف شوی بودجه | د مصرف فیصدی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | حکومتوالی سکتور | حج اوقاف ریاست | 1396 | 3993559 | 3993559 | 100% |
| | | | 1397 | 0 | 0 | |
| | | | 1398 | 0 | 0 | |
| تولټال | | | | 3993559 | 3993559 | 100% |

د حکومتوالی او د قانون د حاکمیت سکتور کې یوازې د حج اوقافو ریاست په ۱۳۹۶ کال کې انکشافی بودجه درلوده او مصرف کړې یې ده.

### 2 -حکومتوالی سکتور د تیرو کلونو عواید:

| ګڼه | سکتور | اداره | کال | راټول شوی عواید | د عوایدو سرچینی |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | حکومتوالی او د قانون حاکمیت | عدلیی ریاست | 1396 | 109272 | توزیع جوازها، تمدید جوازها رهنمایی معاملات، و عریضه نویسان |
| | | | 1397 | 192680 | توزیع جوازها، تمدید جوازها رهنمایی معاملات، و عریضه نویسان |
| | | | 1398 | 250024 | حق الثبت،ده یکی او رهنمایی معاملات |
| | | حج اوقافو ریاست | 1396 | 1335483 | د اته بابه اوقافی دوکانو کرایه |
| | | | 1397 | 142614 | د اته بابه اوقافی دوکانو کرایه |
| | | | 1398 | 150120 | د اته بابه اوقافی دوکانو کرایه |
| دسکتور تولټال عواید | | | | 980193 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټولنیز خوندیتوب سکتور

## د سکتور په هکله معلومات:

په تیره یوه نیمه لسیزه کې ، د ټولنې پیاوړي کولو ، ثبات او خوندي کولو لپاره د ډیری هڅو سربیره ، په بیلابیلو سکتورونو کې اوسیدونکي د دوی د ژوند په بیلابیلو برخو کې بشپړ معافیت نلري.

په دې سکتور کې دکار او ټولنیز چارو ریاست کار کوي چې زیان منونکي کم کړي او له بیوزلو او اړمنو سره مرسته وکړي ترڅو له غربت څخه یې وژغوري ، د کورنیو اقتصاد ته وده ورکړي ، او په ټول هیواد کې د اسلامي ارزښتونو او افغاني دودونو پراساس ټولنیز عدالت رامینځته کړي.

د بې وزلو او اړمنو لپاره د ټاکل شوي برنامو پر اساس د پانګونې پیاوړتیا ، د افغانانو ، راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو خلکو لپاره د دوامدار میشته کیدنې زمینه برابروي ، او د دوی حقونو خوندي کول چې غواړي بیرته خپل ټاټوبي او لویو سیمو ته راستون شي. د کوچیانو وضعیت ته پاملرنه او د هیواد د سرحدي اوسیدونکو ملاتړ د دې سکتور هدفونو کې دي.

د ټولنیز خوندیتوب سکتور د ادرو دپایداره پراختیایی موخو د تارګیتونو او شاخصونو په تطبیق سره به له بلې خوا ، د دې برنامې په پلې کولو سرهبه د ښځو وضیعت په مختلفو برخو لکه تعلیمي، اقتصادی ، سیاسي او ټولنیزو فعالیتونه بهبود پیدا کړی اوپه سیاسی او مدیریتی موقفونو کې به دښځو مشارکت زیاتوالی پیداکړي د ښځو په وړاندې به تبعیض کم او دکار قانوی چوکاټونه به تطبیق شی ا له بلې خوا بې وزله او زیان منونکو خلکو ډیری برخه به د ټولنیز امنیت سیستمونو او اقداماتو پلي کولو له لارې وپوښل شي او د سخت اقلیم پیښو او نورو اقتصادي او ټولنیزو پیښو او زیانونو سره به قوي شي.او همدارنګه د پایداره پراختیایی موخو دسند په تطبیق سره به مناسب کاری فرصتونه برابر شی ترڅو افغانان وکولای شی په خپلو سیمو کې مناسبو کارونو ته لاس رسی ولری او کورنی او بهرنی کډوالی ته ضرورت پیدا نشی.

د ټولنیز خوندیتوب سکتور کې (6) اداری (د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت ، پیښبوته درسیدو په چارو کې د دولت وزارت، د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت ، د ښځو چارو وزارت ، او د کار او ټولنیزو چارو وزارت) شامل دي.

دزابل ولایت جغرافیوی موقیعت، اوسنی امنیتی وضیعت، کډوال، دوامداره وچکالی،وزګارتیا، اقلیمی بدلونونه، دځړځایونو غصب او د دکرنیزو ځمکو له منځه تلل او یا داستوګنی په کورونو او مارکیټونو بدلیدل، داوبو او هوا ککړتیا، دښاری نفوسو زیاتوالی، فقر او بی وزلی هغه عمده لاملونه دی چی په ټوله د ولایت په کچه چاپیریالي ژوند، روغتیا او خوندیتوب اغیزمنوی د خوندی او سالم چاپیریال دمنځته راتلو مخنیوی کوی، لکه څرنګه چی په پورته ډول هغه لاملونه څخه یادونه وشوه چی تقریباً دولایت ډیری وګړی له نوموړو چاپیریالی س تونزو اومشکلاتو سره مخامخ دی.

روغ چاپیرل یواځی په اوبو او هوا پوری تړاو نلری بلکی دژوند نور معیشتی اړتیاوی دچاپیریال مهمه برخه تشکیلوی چی په همدی اساس کولای ددی ښار اوسیدونکی په دوه برخه وویشو.

- هغه خلک چې اقتصادی وضیعت یی ښه او یاښه ته نږدی دی دامکان ترحده یی خپل ژوند په ځانګړی ډول خوندی کړی او په نسبی ډول یی ځانته چاپیریالی شرایط برابرکړی دی چی دیادی ګټګوری سلنه ډیره کمه ده.

- پاتی نور وګړی چې په پورته کټګوری کی شامل ندی او اقتصادی وضیعت یی خراب او کمزوری دی او دژوند ستونزی او مشکلات یی کاملاً دکتنی او پام وړ دی، پرته له هغه چاپیریالی امکاناتو څخه چې په ټوله کی ددولت له خوا دټولنی لپاره اماده شویدی لکه امنیت ، روغتیا، پوهنی، کرنی، او مالداری، بیا رغاونی او دیته ورته نور ښاری خدماتو څخه برخه مند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 1 - د کار او ټولنیزو چارو ریاست:

د کار،ټولنیزو چارو ریاست د دولت د کلیدی ریاستونو څخه دی چی په اقتصادی ودی او ټولنیزو مصؤنیت کی د یو فعال او خدمت گار ارگان په صفت یتیمو او بی بضاعته ماشومانو ،بی وزله کورنیو کونډو ، شهیدانو ورثه و او معلولینو ،متقاعدینو او بی روزگاره ځوانانو ته خدمات وړاندی کوی چی په عمومی توگه لاندی اهدافو د لاس ته تحقق ل لپاره فعالیتونه تر سره کوی چی موخي په لاندی ډول تشریح کیږی:

- په حرفوی اومسلکی زده کړوکی دکونډو،معلولینواو بی روزگاره ځوانانو روزل.
- د بشری قوی تنظیم او د کار مارکیټ تفتیش
- کار څخه د راپیدا شوو مشکلاتو حلول.
- متقاعدینوته خدمات عرضه کول.
- د یتیمانو ښوونی ـ اوروزنه کی خدمات وړاندی کول.
- یتیمو ماشومانو ته س پانسر برابرول.
- دبی بضاعته کورنیو ماشومانو ته دوړکتون خدمات وړاندی کول.
- د ماشومانو محافظت او ساتنی او هغوی ته ټولنیزو خدمات وړاندی کول.
- یو فیصد جبران خساری جمع کول

**<u>پورته اهدافو ته د رسیدولو لپاره نوموړی ریاست په دوه عمده کاری ساحو کی خدمات وړاندی کوی</u>**

۱ـ د کار چارو سمون

۲- ټولنیز مصؤنیت

### دکار د چارو امریت:

- دبشری ځواک تنظیم او دکار دبازار ارزونه ترڅو دکار دبازار اړتیاوي په گوته شي او داړتیا مطابق دفنی او حرفوی زده کړو پروگرامونه دپلی کیدو په موخه په نظر کې ورته ونیول شی ترڅو ماهر کارکوونکي په اړونده برخو کې وروزل شي له یوی خوا به دکار دبازار اړیتا پوره کړی او له بلې اړخه به په ځان دبسیانې جوگه شي ترڅو خپله یو مسلکی متشبث شی.
- په دولتی او غیر دولتی ادارو کې نویوگمارل شویو کارکوونکو دکار دجواز صدور دکاردقانون او اړونده کړنلارو مطابق ۱: دمسلکی زده کړو (لیسانس) دکارجوازونه ۲: دمسلکی زده کړو (څوارلسم پاس) دکارجوازونه ۳: دعمومی زده کړو (دولسم پاس) دکارجوازونه ۴: دموسساتو او خصوصی شرکتونو دکارجوازونه ۵: دخدماتی او قراردادی کارکوونکو دکارجوازونه او یادو جوازو له صدورڅخه په لاس راغلی مبلغ ددولت عوایدوته لیږدول کیږي.
- له کارڅخه دراپیداشویو شخړو دحل کمیسیون جوړول ترڅو په کاری ساحه کې دکارفرما او کارمند ترمنځ راپیداشوی شخړې داړونده قوانیو او کړنلاروپه رڼاکې کې وڅیړل شي او حل شي.
- دکار دبازار دتقاضا مطابق دفنی او حرفوی زده کړو دپروگرامونو پلی کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دکارۍ رژیم له تطبیق څخه څارنه.
- دولایت په کچه له هغو ددولتی، غیردولتی ادارو اوموسساتو کوم چې دفنی او حرفوی زده کړو پروګرامونه پلي کوي دفنی اوحرفوی زده کړو دپروګرامونه دپلی کیدو له بهیرڅخه څارنه او ارزونه کول.

### دټولنیزوچارو امریت:

- دماشومانو ساتنه او ټولنیزخدمتونه ورته وړاندې کول.
- هغه خطرونه چې ماشومانوته راجع وی له هغوی څخه نظارت اومخنیوی کول لکه له ماشومانو څخه دنشه یی توکو په قاچاق کې کار اخیستل،جنسی څورونی، شاقه کارونه، په امنیتی لیکوکې جذب،.
- هغه کسان چې په مواد مخدرروږد وی صحی مراکزوته معریفی کول ترڅو یې په ژوند کې بدلونونه راشی او له روغتیا وروسته دفنی او حرفوی زده کړو په مرکزونو کې روزنه ورکول.
- ددولتی اوخصوصی وړکتونواوروزنتونوڅخه نظارت کول او هم بی بضاعته ماشومانو روزنتونوته ورپیژندل او یادو ماشومانو په روزنتونو کې رسمی زده کړې ورکول او ترڅنګ ساتنه کول.
- د کار اړوند د جبران خساری د تثبیت د پروسی کنترول د جبران خساری د تطبیق به موخه.
- دولایت په کچه دماشومانو دساتنې (CPAN) دشبکې غونډې له اړوند ارګانونو سره دایرول او د متضرزرو ماشومانو په ګوته کول.

### ټولنیزو خدمتونو ته لاسرسی په ځانګړې توګه بیا د ښځو لپاره

دښځو لپاره  زیاتره د فنی او حرفوی زده کړو مرکز یواځی یو مرکز په قلات او شهرصفا ولسوالی  کی د لنډ مهاله حرفوی زده کړو لپاره پرانیستل شوی دی چی د پروژی په شکل تطبیق کیږی.

### 2 - دکډوالو چارو امریت

دکډوالو چارو امریت یو مهم او کلیدی امریت دی چې دداخلی بیځایه شوی کورنیو او کډوالو کورنیو ته دغدایی او غیر غذایی موادو دویش ترڅنګ دځمکی دتوزیع پروګرام هم لری چې دقلات ښار په جنوب کی دشیخ متی بابا په نامه ښارګوټی لری او د (۱۰۰۰) داخلی بیځایه شویو او کډوالو کورنیو ته ځمکی توزیع شوی همدارنګه دکډوالو چارو امریت دبیرته داستنیدونکو کورنیو لپاره د حقوقی سلا مشورو ترڅنګ د هغو کورنیو سره هم مرسته کوی دکومو چې اولادونه دتعلیم له حق څخه بی برخی پاتې شوی دی چې په لاندی ډول تشریح کیږی:

#### بیرته راستنیدونکو او د کورني بی ځایه شویو کسانو لپاره د سرپټوني او کور شتون

زابل ولایت ته د ۱۳۹٦ کال څخه تر ۱۳۹۷  کالونو په موده کی ( ۳۵۰۰) بی اسناده  کډوالی کورنی  راستنی شوی، چی  دهغی له جملی څخه  (۲۱۵۰) راجسترشوی کورنی دی.

دزابل ولایت دمهاجرینو چارو آمریت لخوا د ۱۳۹٦ لمریز کال څخه تر اوسه پوری  د (۱۰۰۰) د راستنیدونکو کډوالو کورنیو سره دسرپنا په برخه کې  مرسته کړې ده.

دزابل ولایت دمهاجرینو امریت لخوا ۱۳۹٦ لمریز کال څخه تر اوسه پوری (۱۳۹) دراستندونکو کډوالو سره دسرپنا یا شلتر کمک کړی

دزابل ولایت دکډوالو چارو امریت د ۱۳۹۷ کال څخه تر ۱۳۹۸ کال پوری د ۳۵۵۹ داخلی بیځایه شویو کورنیو سره دغذایی او غیر غذایی او نغدی مرستی کړی او د ١٦٥ بیرته راستنا شویو کورنیو سره د نغدی او د سولرونو مرسته کړی

په روان ۱۳۹۹ کال ۳۸۴ کورنیو داخلی بیځایه شویو او بیرته راستانه شویو کډوالو سره د غذایی او غیر غذایی توکو او نغذی مرسته شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکډوالو چارو امریت سره دداخلي بیځایه شویو او کډوالو کورنیو سره دکمک او همکاری په خاطر لاندی موسسات فعالیتونه ترسره کوی

HAPA, UNICEF, ACTITED, HRDA, NRC, DRC, WFP, UNOCHA, UNHCR

پورته موسساتو دنقدی، غذایی، غیر غذایی موادو مرستی ترسره کړی او د UNOCHA په مرسته کمکونه هماهنګ شوی.

او زابل ته راستانه شوی کورنی په لاندی برخو کی ستونزی لری:

۱-دښارګوټیو کمبود

۲- دکار نشتون

۳- دامنیت نشتون او شته ښارګوټو کی داسانتیاوو نه موجودیت

### 3- دپیښوپه وړاندي دچمتووالی ریاست

د پیښوپه وړاندي د چمتووالي رياست دلمړي ځل لپاره دولاياتو په سطحه په کال ۱۳۸۸ کي تاسيس او په کارپيل وکړ. د پيښوپه وړاندي دچمتووالي اداري ترمنځته راتګ مخکي په زابل ولايت کي داسي مشخصه اداره چي د پيښبود زيانمن شوو کورنيو سره مرسته وکړي وجود نه درلود. دزابل ولايت د پيښوپه وړاندي دچمتووالي رياست د کاردلمړۍ ورځي څخه تل هڅه کړيده چي پروخت دزيانمن شوو ولسونو ترمشکلاتو پوري ځان ورسوي. دټولو دولتي او غيردولتي ادارو، مدني ټولنو او عامه خلکوسره ښه روابط ساتل دپيښوسره دمبارزې دچمتووالي رياست له لمړيتوبونو څخه دي.

**کاري پروسيجر:**

- د پيښو په وړاندي دچمتووالي ولايتي رياست په ولايت کي د خپلی مرکزي اداري نمائنده ګي کوي.
- د پيښو په وړاندي دچمتووالي رياست پيښوته درسيدو په چاروکي د دولت وزارت مقام، معاونينو او ولايت محترم مقام په رهبري او هدايت خپل کارونه مخته وړي.
- دپيښوپه وړاندي د چمتووالي د قانون د ۱۱ مادې مطابق دپيښوسره د مبارزې درياست اجرايوي امورات د پيښوسره دمبارزې دولايتي کميسيون له لاري تطبيق کيږي.

| شميره | ولسوالی | د پيښې څرنګوالي | مرسته شوی توکې | مرسته کوونکې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | مرکز قلات | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |
| ۲ | شاه جوی | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |
| ۳ | شهرصفا | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |
| ۴ | شینکی | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |
| ۵ | نوبهار | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |
| ۶ | اتغر | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۷ | شملزایی | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |
| ۸ | میزانه | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |
| ۹ | ارغنداب | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |
| ۱۰ | دایچوپان | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |
| ۱۱ | خاک افغان | اوربښتونه او سیلابونه | غنم | د هندوستان هیواد |

د زیان منوونکو ډلو په تیره بیا د ښځو او ماشومانو خوندیتوب

کله چی یوه پیښه رامنځ ته شی نو دولایت په کچه بیړنی کمیټه چی تقریباً ۱۸ کلیدی ریاستونه دولایت مقام په مشرتوب ناسته ترسره کوی، هره اداره دخپلی لایحی مطابق متضررو او یا ځپل شویو خلکو ته کړنی ترسره کوی چی په یاده کمیټه کی دولتی او غیر دولتی موسسات شامل دی چی دپیښی درامنیځ ته کیدو په وخت کی پیښو ته دچمتووالی ریاست، ملی اردو، ملی پولیس، او ټولنه دپیښی دساحی څخه متضرر خلک خوندی ساحو ته چی عبارت له ښوونځی، مسجدونو او نور دولتی تاسیساتو ته انتقالوی او عملاً د ژغورنی کمیتی چی په ولسوالی او مرکز کی شتون لری.

## 4 - د ښځو چارو ریاست

د دغه ریاست اصلي موخه د ښځو په وضعیت کې د بدلون راوستل دي چې دې موخې ته د رسېدو لپاره، د ښځو په برخه کې د دولت پالیسۍ او پلانونه تسویدوي، پراختیا ورکوي او د هغو له پلي کېدو څخه څارنه کوي. په افغانستان کې د جندر د ملي او نړیوالو پالیسیو له پلي کېدو څخه څارنه په ولایاتو کې د دغه ریاست اصلي نقش دئ.

**د زابل ولایت د ښځو جارو ریاست د ولایت په سطحه د ښځو لپاره په لاندی بخشونو کی فعالیتونه ترسره کوی :**

**۱** : اقتصادی بخش

۲: فرهنگی بخش

۳: د ارتقای ظرفیت بخش

۴ : اجتماعی او صحی بخش

۵: د حقوقی خدمتونو بخش

٦: د کاریابی بخش

**اقتصادی بخش :**

په اقتصادی برخه کی د موسساتو را جلبول او لاندی فعالیتونه ترسره کول

- د گلدوزی پروژه
- مالداری پروژه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- باغداری پروژه
- مربع سازی پروژه
- سوزن دوزی و غیره

**فرهنگی بخش :**

په فرهنگی برخه کی لاندی فعالیتونه ترسره کیږی

- د سواد زده کړی پروژه
- د قرآن کریم زده کړی پروژه
- د انګلیسی او کمپیوتر زدکړی پروژه
- د ورزش زدکړی پروژه

**د ارتقای ظرفیت بخش:**

د ارتقای ظرفیت برخه کی لاندی فعالیتونه ترسره کیږی

- د ورکشاپونو دایرول
- ګردی میز دایرول
- د ښځو د عامه پوهاوی کمپاینونه دایرول

**اجتماعی او صحی بخش:**

اجتماعی او صحی برخه کی لاندی فعالیتونه ترسره کیږی

- ښځینه مریضان په صحی مراکزو کی حمایه کول
- د غریبو او بیوزلو ښځو څخه ليدنه
- د ښځینه بندیانو څخه لیدنه کول
- د ښځینه تعلمی مزاکزو څخه لیدنه کول

**د حقوقی خدمتونو بخش :**

**د** حقوقی خدمتونو برخه کی لاندی فعالیتونه ترسره کیږی

- د متضریرنو ښځینو سره په حقوقی برخو کی مرسته او حمایت
- د متضریرو ښځینو قضیی د حل او فصل په موخه عدلی او قضایی ارګانو ته معرفی کول او د هغوی څخه برسی او حمایت

**د کاریابی بخش :**

کاریابی برخه کی لاندی فعالیتونه ترسره کیږی

د ښځو معرفی کول دولتی او غیری دولتی ادارو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په زابل ولايت کې د کوچيانو ژوند ته کتنه:

## د کوچيانو حالت

د زابل په ولايت کې کوچيان د اوړي او ژمي په موسم کې په ټولو ۱۱ ولسواليو کې او سيږي په ځينو سيمو کې يواځې ژمې تيروي او په ځينو سيمو کې اوړی او ژمی اوسيږي چې په مجموعي ډول ځمونږ د راټولو شوو معلوماتو له مخې ۲۳۰۰۰ شاوخوا کې کوچي کورنۍ په زابل ولايت کې ژوند کوي چې د يادې شمېرې ٦۰٪ سلنه کوچيان د اوړي په موسم سړو سـ يمو او ايلبندونو ته ځي لکه ) کابل ، لوګر ، کاپيسا ، پروان ، غوربند، شيبر ، ميدان ښار ، غزني ، هزاره جات ،( او ۴۰٪ يي اوړی او ژمی همدلته اوسېږي ځکه چې مالونه نه لري او دلته په زابل کې ور مزدوري او ياهم پوله پټې کې بزګري کوي ، او کمه برخه يي چې اقتصادي وضعه يي ښه ده تجارتونه کوي او ياهم بارداره ټرانس پورټونه لري .

